# دزړه کوکي

شاعر

محمدموسیٰ (یوسفزی)

# کتاب پېژندنه:

****************************************************************

دکتاب نوم..................................دزړه کوکي
شاعر..........................................محمد موسیٰ (یوسفزی)
خپرونکی ..................................... هلمند ادبي بهیر
کمپوز.........................................سردار محمد (صدیقي)
ډیزاین او پښتۍ طرحه................... سردار محمد (صدیقي)
چاپ کال.....................................۱۳۹۰
شمېر.......................................... ۵۰۰
چاپ چاري.................................. کفتان مدد خپرندویه ټولنه
دشاعرسره اړیکه............................ ۰۷۰۷۹۴۸۲۴۰
مننه کورودانی: له محترم محمد فهیم گوربتي او محترمه نسیمه نیازي څخه چي ددي کتاب دچاپ لگښت يې پرغاړه واخیست.
(یوسفزی)

# ډالۍ

دغه کتاب دخپلي ګراني
مورو سپېڅلي ارواح ته ډالۍ
کوم

(یوسفزی)

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

دزړه کــوکي دمحمدموسٰــی یوســفزي دشــعرونوټولگه ده چــي نــن اوسباچاپېږي اودلوستونکولاس ته بـه ورځـي محمدموسٰی یوسفزی کټ مټ خپلوخلکوپه ژبه رږغېږي اودشعریوه شپگڼه یې دکلام روانـي ده له سرڅخه ترپایه پوري په یوه بیت اویـوه تـوري کـي سـکته نـه لـري اوداد منظــوم کــلام یوډیرضــروري اړخ دی ددې ترڅنــګ یوســفزی صــاحب دیــوه ښــوونکي پــه حیــث دخپلــي ټــولني ترټولــومهمي نیمگړتیاته چي ښوونه اوروزنه ده ، متوجه سوی دی هغه تعلیم اوزده کړه دژوندیومهم ضرورت گڼي اوپه ډیروزیاتونظمونوکي یې پردې مهم ضرورت باندي ټینگارکړی دی د(عمر)(ښوونکي)(هجرت) اونورونظمونواکثریت برخه یې دتعلیم اوتربیې مسئلې اوضرورت تـه توجه ده دغـه رازي دښځوحقوق هم ده لـه نظـره نـه دي غورځـولي اوددې ترڅنـګ یـې دسولي چیغـي هـم پورتـه کـړي دي.

زه یوســــــفزي صــــــاحب تــــــه ددې شــــــعري مجمــوعې دچاپېــدلومبارکي وایــم اودلــوی خــدای لــه دربارڅخــه ورتــه نوربریالیتوبونـه غـواړم هیلـه لـرم چي دده دزړه لـه کـومي لـه غوښـتني سـره سـم دپښتنوتیاره کلي اوښارونه دعلم په ډېوو روښانه سي .

پـه درنښت

عبدالباري (جهاني)

۱۰\۲۴\۲۰۱۱

هلمندلښکرگاه

## حمد

ددنیااودعقبادواړوباچـــــــــادی
انــس وجــن یــې پیــداکړي لــوی الله دی

مخلوقــات مځکــه ســماء الله پیــداکړه
دی باچــاهم دزمــین هــم دســماء دی

جنتونـــه دوزخـــونې پیـــداکړي
هــم واحــدهم لایزالــه پــه رښــتیادی

شــریك نــه لــري واکــداردټول عــالم دی
هــم واکــداره پردنیــاهم پرعقبــادی

غرونــه دښــتي نباتــات یــې ثنــاوایي
رالیږلــی یــې دنیاتــه مــصطفیٰ دی

دالله پــــه درکـــي ژاړه (یوســـفزیه)
هرمــومن هــم ســتاپه شــاني پــه ژړادی

## نعت

زمـوږ نبـي زموږ رسـول زموږ رهنمـا دی
دی غمخـوارد دواړو کونو مـصطفٰی دی

کلیمـه پـه هرزمـان کـي بانـدي وایـو
نـوم یـې ښـکلی محمدرسـول الله دی

اولـــین اواخـــرین زموږســـرداردی
ســـنت قـــول دنبـــي خیرالـــوراء دی

مدینـه کـي یـې نـښان شـنه یـې گنبتـه
دامـت پـه غـم کـي ډوب پرهـره خـوادی

دی ســـــــرداردواړو کونونازولی
محمــد جانان بنـده دپــاك مــولا دی

(یوســفزی) درود ســلام وربانــدي وای
مـدینې تـه بـه ورځـي بانـدي شـیدا دی

## مناجات

ستاپه درکي پـه ژړایـم لویـه خدایـه
عفـه غـوارم پـه غوغـایم لویـه خدایـه

ثـه ګنـاه وي ثـه خطـاوي راسـه سـوي
در روان یـم وارخطـایم لویـه خدایـه

بخـــښنه غـــوارم ای ترهرڅامهربانـــه
بـل څوك نـه لـرم تنهـایم لویـه خدایـه

دمـــسجدپرطرف اخلـــم قدمونـــه
تـل روان داسـتاپرخوایم لویـه خدایـه

دمکـــې اومـــدینې ارمـــان لرمـــه
(یوسـفزی) پـه دې وینـایم لویـه خدایـه

## وګړي

ترڅو به ولې دخپل کوروګړي؟
دخپل انګړاودخپل ورور وګړي؟

په ښکلي بڼ کې دي اورونه بل کړه
دکوره وباسې په زور وګړي
مینه دي یې بوري خوینه دي کونډي سولې
یتیمان ژاړي کوي شوروګړي
دځول سیزوجنګ ځپلې ملت
په اورسوځلي سوي توروګړي
تعلیم هنرڅخه نیمګړي پاته
څلورطرفه سول نسکوروګړي
دخپل قدرت دسرلوړي لپاره
کړي مو په سروونوکي بوروګړي
دکسب کارڅخه مرومه پاته
و(یوسفزي) ته سول پیغوروګړي

بېلتونه!

بېلتونه ولاړسه له دې کلي له دې ښاره ووځه
زموږله محفله له مجلسه له باندې اره ووځه

د سولي ږغ مو پيدا سوی دی دزړونو ترمنځ
دورورولۍ ږغ ته يې پربږده له سينګاره ووځه

بڼ او باغچه کي دبلبلو اوازونه اورم
جوړه جوړه دي راروان له دې کتاره ووځه

د (يوسفزي) معلم ګلشن دي ټول اغزي اغزي کړ
د دې خوږو پستو خبرو له ګفتاره ووځه

# ښکلی کلی

ظالمه ولې ولې ته د ښکلو ښکلی کلی
تل په نښان کې راولې دګلو ښکلی کلی

په یونامه اوبل نامه باندې یې ونړوې
دلته ساتلی وویوڅو ښاغلو ښکلی کلی

ته په بلډنګ اوبنګلوکې رونې سهار تېروې
ورانوې ته د دې بربنډوڅلو ښکلی کلی

خپل واولاد ته هم تعلیم هم تربیه ورکوې
ومورته نه پرېږدې د خپل غزلو ښکلی کلی

بڼ اوباغچوکې (یوسفزی) معلم اغزي نه پرېږدي
د سر په بیه مونیکو ساتلو ښکلی کلی

## د سولي زېغ

کــــوتري ولاړې پــــه هوا ســــوې زېغ د ســــولي راوړي
داچــــي رو انــــي نــــن سبا ســــوې زېغ د ســــولي راوړي

نــــن پــــسرلی نــــوی موســــم دی دبهــــار ورځي دي
چــــي پورتــــه نــــوري پــــه بیابیا ســــوې زېغ د ســــولي راوړي

ښــــکلې فــــضاده شــــین اســــمان دی پیغامونــــه نــــوي
کتارکتارپرشــــــنه فــــــضاسوې زېغ د ســــولي راوړي

پــــه بــــڼ بــــاغچوکي دبلبلــــوزړه راکــــښونکي نــــارې
دغــــرو دروپرهــــره خواســــوې زېغ د ســــولي راوړي

دشــــعرپه ژبــــه (یوســــفزی) د ســــولي زېغ خپــــروي
پېغلــــي گــــودرکي پــــه خنداســــوې زېغ د ســــولي راوړي

## ستوري

ســـــتا پرلوري ملنگيـــــان کتارکتـــــاردي
لکـــه ســـــتوري دا ســـمان کتارکتـــاردي

ستادحـــسن شـــغلې پورتـــه معلـــوميږي
تـــــوري تـــوري دقـــــرآن کتارکتـــــاردي

توراوربـل دي پرسـپين مـخ دی غـوړولی
تاتـــــه گـــــوري مينـــــان کتارکتـــــاردي

ترشـــرق غربـــه مينـــه وال لـــرې محبـــوبي
دوري دوري مومنـــــــان کتارکتــــــاردي

(يوسفزي) ته نن پـه خيـال کي ښکلي راغلـه
اوښـــکي ښـــوري پرگريـــوان کتارکتـــاردي

## کور

پرتــادي خپــل کــورگی چپــه ســي يتيمــان ژړوې
درخــه دي پاتــه بنگلــه ســي مظلومــان کــړوې

ډيرمظلومـــان دي کړولـــي ســـرپناه نـــه لـــري
تاتــه يې پاتــه افــسانه سي سره گلان سوځوې
پــه هــره ســيمه هــره خــواکي چي مانۍ جوړوي
تاتــه دي دغــه سره لمبه سي ماشومان ځوروې
ټول دتعليم څخه محروم سول هلي ځلي کوي
پرتـــادي جـــوړه هـــديره ســـي ظالمـــان هڅـــوې
زموږدخټوکوردي وران کړته کولرته ناست يې
پرتـــادي جـــوړه تاريکـــه ســـي قـــاتلان پـــاروې
پـــه هغـــه څـــه چـــي دخوارانوځـــالگۍ ورانـــوې
ستاســـه دي پاتـــه داآلـــه ســـي نـــوکران راولـــې
د(يوســفزي) معلــم وينــاده لرڅــه ځيرســه ورتــه
تاتــه بــه هــم جــوړه کيــسه ســي مومنــان کــشوې

## څوربغونه

په کوڅه کي تیرېدمه
څوربغونه مي ترغوږېسول
لږدمه سوم دور خواته
وه ژړا او فریادونه
خویوځوان په منډه منډه
رانژدې سوزما خواته
ماویل څه دي ځوانه وایه
په دې حال مي لږ خبر کړه
په ژړاځوان راته وايي
په لڅ سرپه لڅوپښووو
ویل بابك يې راشهید کړ
ظالمانوقاتلانو
ماویل څنګه ځوان ویل داسي
خپل خواري ته سهارولاړی
چي یوغتې درب مي ترغوږسو
چي زه هلته ورنژدې سوم
دبابك لاس اوپښې نه وې
په سرووینوکي لت پت وو

مابابك په غیږکي ونیو
ماپه منډه راوړکورته
ټول فامیل موپه ژړادی
اوس یې قبرته روان یم
(یوسفزی) په حال خبرسو
دهغه ځوان سره ولاړی
ددې ځوان په غم شریك سو

## ښایستې

ښایستې دومره ښایسته نه یې چې نوم دي واخلم
څه دګلانوګل دسته نه یې چې نوم دي واخلم

ښکلي هغه دي چې تعلیم اوتربیې ته درومي
هم غوړېدلې شکوفه نه یې چې نوم دي واخلم

دچنارونوبې ثمره څه ګلاب خونه یې
زموږدښکلي بڼ منېه نه یې چې نوم دي واخلم

زړه چې ازارسي دښکلابازارته نه ورځي نور
وماته دومره هم خوږه نه یې چې نوم دي واخلم

ته په خپل حسن یې مغروره مظلومان کړوې
د(یوسفزي) دلاس ډیوه نه یې چې نوم دي واخلم

# وفا

تـــوري تيـــارې دي رڼانـــسته مينـــان لټـــوم
شـمعي چـي مـړې دي اشنانـسته مومنـان لټوم

ددې تـــورتم تورو تيارو څخـــه بـــه ځـــان وســـاتم
بلـــي لمبـــې دي وينانـــسته عاشـــقان لټـــوم

دعرفـــان عـــصردی راغلـــی دامیدپـــه طمـــع
رونـــي ډيـــوې دي ښکلانـــسته ماشـــومان لټـــوم

مکتـــب دعلـــم یوزانگـــوده پکـــښي زانگوټولـــه
ورخـــي ســـړې دي سبانـــسته شـــاگردان لټـــوم

(یوســـفزی) نـــه پربـــړدي لعلونـــه لاژوري مختـــه
کيـــسې تـــودې دي وفانـــسته ليکـــوالان لټـــوم

## هلمنده

ډك دلعلونو دكانو هلمنده
زموږ ټاټوبی زموږ زانګو هلمنده

دقلعه بست قلعه تاریخ کې لرې
ته یې ټاټوبی دقومو هلمنده

داستا په غېږه کې لوی سوي یو موږ
پرموږ یې ګران دپرګنو هلمنده

ته چې لرغونی باستاني یاد برې
زموږ دخاپوړو سردرو هلمنده

ته یې جنت نوم اونښان دي ساتم
زموږ دنیکونو اوپلرو هلمنده

چې (یوسفزی) دي په نامه نازیږي
داتلانو پښتنو هلمنده

## ځوانان قتلوي

ظالمــــه ولـــي موځوانـــان قتلـــوي
زمـــوږدوطن ګـــران مومنـــان ژړوي

چغـــي بغـــاري شـــاه وخواخـــورې دي
دګـــران مـــسکن ګـــران عالمـــان ځـــوروي

دالروبردپـــــــــــــــښتنووطن دی
زمـــوږدچمن ښـــکلي طوطيـــان کـــړوي

دځولـــسيزوجنګ ځپلـــۍ ملـــت
پـــه شـــنه ګلـــشنه کـــي موبمـــان اوروي

ملا ،مکتـــب معلـــم شـــاګرداوژني
داتـــوراغزن ســـيم پرافغـــان غـــوړوي

(یوســـفزي) پورتـــه کړدســـولي اواز
تـــه يـــې ومـــرګ تـــه قـــاتلان هڅـــوي

## وطنه

وطنــــه گـــران افغانـــستان وطنــــه
ســـرومال تانـــه مـــي قربـــان وطنـــه
دآســـيا په زړه کـــي پـــروت يـــې گرانـــه
تانـــه لـــوگی ســـمه ای گـــران وطنـــه
تـــه دآريـــن اودباخترپـــه نـــوم يـــې
وموږتـــه گـــران يـــې خراســـان وطنـــه
دهنـــــدوکش پردروښـــــه ځلېـــــږې
يـــې غرنـــی ملـــك دافغـــان وطنـــه
ســـتادنازواوزرغونې لمـــسيان خـــو
ډيرننگيـــالي دي گلـــستان وطنـــه
يـــاقوت زمرودلـــرې لعلونـــه لـــرې
زموږسيـــستان بلوچـــستان وطنـــه
ســـتاددې دنگودنگوغرونـــه قربـــان
د(يوســـفزي) جنـــت نـــښان وطنـــه

## بلبل

چـــي وځـــان تـــه بلبـــل وايـــي بلبـــل نـــه دی
چي غداروي دوست يې مه بوله خپل نه دی

دلـــــستوني مـــــاردی خلکوپېژنـــــدلی
ښکلي بڼ کي چي اوسيږي سورګل نه دی

تـــورزن نـــه دی نـــه يـــې تـــوره معلومـــداره
نـــه ځليـــږي نـــه روښـــان جـــل وبـــل نـــه دی

ګـــل ګـــلاب نـــه دی چنارګـــته يـــې نـــسته
هـــم دســـپين تنـــدي دپاســـه کاکـــل نـــه دی

چـــي پـــه لافـــويې تيرنـــسي (يوســـفزيه)
چـــي پـــه کـــارکي اتـــل نـــه وي اتـــل نـــه دی

## مینه

مینــــه لـــــرم دهرانــــسانه ســــره
نــــه کــــوم مینــــه دناځوانــــه ســــره
ســــپېڅلې مینــــه صــــادقان خوښــــوم
دپــــاکي مینــــي مینــــان خوښــــوم
مینــــه لــــرم دســــپین قرآنــــه ســــره

مینــــه مــــي خوښــــه صــــداقت خوښــــوم
ســــوله مــــي خوښــــه عــــدالت خوښــــوم
ملګــــری یمــــه دجانانــــه ســــره

دالباســــي مینــــه مــــي نــــه خوښــــیږي
دامطلبــــي مینــــه مــــي نــــه خوښــــیږي
ده داســــي مینــــه لــــه تاوانــــه ســــره

دغریــــب قــــدرخلك کلــــه کــــوي
پرمظلومــــانوظلم څــــه لــــه کــــوي
مینــــه یــــې زړه کــــي وي لــــه خانــــه ســــره

دابـــې تعلیمـــه خلـــك نـــه خوښـــوم
دابـــې هنـــره بـــه پـــه ځـــه خوښـــوم
دغـــه پرېږدمـــه لـــه بیابانـــه ســـره

(یوســـفزی) قـــدردعالم لـــري تـــل
زړه کـــي عـــزت دهـــرمعلم لـــري تـــل
خـــوښ یـــم ددارقـــم بیانـــه ســـره
نـــه کـــوم مینـــه دناځوانـــه ســـره

## پاتیږي

لــه موږســه دابښــکلی جهــان پــاتیږي
هــم لــه هرچامځکــه اســمان پــاتیږي
ترخپــل نــصیبه زنــدگي ده وړونــو
روان عقباتـــه يوکـــاروان پـــاتیږي
مـــرگ نـــاخبره نامعلومـــه راځـــي
يوځـــه ليکـــه نـــوم ونـــښان پـــاتیږي
څـــراغ دځانـــه ســـره يوســـئ خلکـــو
شمعي سي مړې هم پتنگان پاتیږي
دانيـك عمـل بـه دي پـه کارسـي هلتـه
نـه لـوي واړه نـه هـم شـاهان پـاتیږي
داتورلحداوســـپين کفـــن نـــښاني
تــش لاس روان يـې دابيابـان پـاتیږي
د(يوســفزي)خــو نورځــه نــه پــاتیږي
ونـــوي نـــسل تـــه ديـــوان پـــاتیږي

## ځوانان

هلمنـــدي ځوانـــان روان ســـول مکتبوتـــه
دښکلادښـــکلي بـــڼ ومنظروتـــــه

ځـــان منـــزل تـــه رســـوي کـــړي هلـــي ځلـــي
ورســـره قلـــم کتـــاب ځـــي ودرســـوته

وردپوهي ورتـه خلاص دی پـه دي وخت کـي
ځـــان لـــه جهلـــه خلاصـــوي ځـــي کتابوتـــه

دجهـــان ســـره واصـــل ســـول زموږخلـــك
ټـــول کانونـــه بـــه ســـاتي خپلوبچوتـــه

نـــوی نـــسل تربیـــه کـــړه (یوســـفزیه)
پاتـــه نـــسي بـــې تعلیمـــه وپردوتـــه

## له بلي خوا

یو او بل سره تنها سول
خپل و خپلو ته بلا سول
دلته عدل انصاف نسته
ټول روان پر بلي خوا سول
چا پردي را وستل دلته
څوك په سترګو نابناء سول
چا قلم ټوپك ته لاس كړ
څوك روان نن او سبا سول
ژاړم ژاړم ځكه ژاړم
چي شاهان خلك ګدا سول
غريبان يې په نښان كي
خپل له خپلوسه جدا سول
زه له چانه ګيله وكړم
داملګري بې وفا سول
چي پر موږ بې ظلم كړی
(يوسفزی) وايي رسوا سول

## غیرت

راســــــه غیـــــرت ســــــره ورکــــــړو
هـــــم آمـــــي هـــــم وملاتـــــه
ږغ دیـــــون بـــــه ســــــره وکـــــړو
ای افغانـــــــه هـــــــره خواتـــــه

زه چــــــي تاتـــــــه قـــــــدردرکړم
اوپـــــــه لوړنامــــــه دي بــــــولم
مغـــــروري بـــــــه دي پــــــاتیږي
تـــــه چــــي گـــــورې وبلاتـــــه

پریـــــــوه تجربـــــــه کـــــــښېنو
پـــــه یـــــوه نامـــــه یـــــادیږو
زه هغـــــه بـــــې وفانـــــه یـــــم
تابـــــه نـــــه پریـــــږدم بـــــل چاتـــــه

تــــه پــــه ســــپکه راتــــه گــــورې
داعـــــــزت مـــــــولاراکړی
زه دي هروخــــــــت یادومــــــــه
گـــــوره مـــــه کــــوه جفاتــــــه

ظالمـــــانو ســـره مـــل یـــې
ماشــــــومان دي ځــــــورولي
تـــه بـــه داســـي نـــه پـــاتیږې
خامخابـــــه ځـــې عقباتـــــــه

زه پـــردی نـــه یـــم ســـتاخپل یـــم
تاپــــه کـــانهویم ویـــشتلی
کـــــه دي نــــورزهیرکړم یــــاره
بخـــــبنه نـــــه کـــــوم وتاتـــــه

(یوســـفزي) تـــه قـــدرمن یـــې
راســــه روغــــه ســــره وکــــړو
یوهــــــدف یومـــــــومرام دی
انتظــــــارکوه ســــــباته

# عمل

هرعمـــل عکـــس العمـــل لـــري ملگـــرو
هـــره ســـتونزه ځانتـــه حـــل لـــري ملگـــرو

اغـزي مـه شـينده دبـل سـړي پـه پـښوکي
هــاکمزوری خـوارهم چــل لـــري ملگـــرو

واری وکـــړي لاس ي شـــاته وي نيـــولي
هـــره غوټـــه غوټـــه ول لـــري ملگـــرو

پټـــه نـــه ده داښـــکاره ده وهرچاتـــه
هـــرجبين ښـــکلي چارگـــل لـــري ملگـــرو

(یوسـفزی) ولـــي پـــه کاڼوبانـــدي ولـــي
هرڅـــوک واری داجـــل لـــري ملگـــرو

# کاروان

زه خوار بــــه مــــل دکــــوم کــــاروان ســــم
زه بــــه دچــــادزړګي تــــوان ســــم

ډیرمــــي روزلــــي ډیرروزمــــه
ورتــــه دشعرښــــکلی دیــــوان ســــم

میتودپــــه کــــارمي اچــــولی
زه بــــه یوســــتوری داســــمان ســــم

تابــــه روزمــــه ګرانــــه یــــاره
زه بــــه داروزه بــــه درمــــان ســــم

د(یوســــفزي) معلــــم وینــــاده
زه بــــه دوران وطــــن نــــښان ســــم

## کډه

ظالمه ولاړسه له دې کلي نوردي کډه وکړه
پربېړده زموږدغه ښاغلي نوردي کډه وکړه

ددې سکروټوشنولوخړوطاقت نه لرومونږ
څلورطرفه دي پاشلي نوردي کډه وکړه

ټوله جهان کي خوښحالي دلته دي کوکي نارې
په سرولمبوکي دي سوځلي نوردي کډه وکړه

غمازاغيارهم دلستونې ماران نه غواړومونږ
په څوڅوواره موشړلي نوردي کډه وکړه

(يوسفزي) پورته کړه لاسونه دالله ودرته
مونږخوڅوك نه دي رابللي نوردي کډه وکړه

# ښځه

ښـــځه مـــورده ښـــځه خـــورده
هـــم ښـــکلا دیوه کـــورده

تعلـــیم فـــرض پرمومنـــانو
هـــم پرنـــرهم پرزنـــانو
کـــه عـــصري وي کـــه دینـــي وي
لـــومړنی غیـــږه دمـــورده

دعرفـــان عـــصرراغلی
دتـــورتم تیـــارې تیریـــږي
دتعلـــیم څخـــه محرومـــه
بـــې علمـــي موږتـــه پیغـــورده

بـــې هنـــره بـــې کمالـــه
هـــم ږنـــده ده هـــم کڼـــه ده
نـــه ډاکتـــره نـــه معلمـــه
داشـــبکوره دکـــوم لـــورده

هـــــره ښـــــځه ګلالـــــۍ ده
باتعليمـــــــه ملالـــــۍ ده
(یوســـــــفزیه ) وهرچاتـــــــه
دزخمـــــي زړګـــــي ټکـــورده

## جسدونه

موږته دخپل په نامه راسي زموږلعلونه یوسي
دیو اوبـل پـه پلمـه راسي زموږکانونـه یوسـي

پـه چـل اوفریـب بـاني یـې وخـوړل دنیـاملګرو
دلتـه بدرنګـه خیـرې راسـي جـسدونه یوسـي

دسـمندرخپې دي سـختي هـم ژوري مختـه
چي یې په مخ کي وي پراته ټوله کورونه یوسي

دلتـه بهـادوره اتـلان قهرمـان اوسـیږي
ځنـګ بـه اتـورمخي زموږځخـه سـرونه یوسـي

(یوسفزی) نه پریږدي پرپاکه خاوره داسي خلك
دشـرمېدلوپرپله راسـي هغـه پلونـه یوسـي

## دجهل تورتم

لادجهـــل دتـــورتم تيـــارې خـــورې دي
هــرې خواتــه تــورې دربــې تــورې شــپې دي

نـــه دعلـــم نـــه تعلـــيم پرطـــرف دانگـــو
ددې وړونـــوترمنځ ويـــنم لادعـــوې دي

قـــصابي دانـــسانانورواج ســـوې
پــردې ســيمه زمــوږدعلم ډېــوې مــړې دي

پـــه اطرافـــوکي موښـــکلی لارښـــودکم دي
مکتبونـــه ســـوځل کيـــږي ســـرې لمبـــې دي

دنفـــاق اورونـــه بـــل دي پـــردې ســـيمه
ورور دورور ومـــرگ تـــه ناســـت لافـــاتحې دي

ځولـــــسيزوجگړوځه نـــــاخوالي راوړې
دشهيددماشـــــــــــــومانوغلبلې دي

څــه عجــب غريــب داســتان وينمــه دلتــه
پرهرځــای يــې جــوړي کــړي محکمــې دي

پــــردي څــه کــړم زه لــه خپلوســه ژړېــږم
جــوړي کــړي يــې وموږتــه دسيــسې دي

دملالـــي زرغـــونې نـــازووطن کـــي
دميــرويس، احمــد ،محمودپرکورحملې دي

(يوســفزی) معلــم لــه دې حالــه ژړېــږي
چيرتــه ولاړســم څــه ناترســه زمــانې دي

## درځخه ولاړی

هابلبـــل چـــي ږغېـــد ی درځخـــه ولاړی
گـل ناسـت نـه وکـړ یـد ی درځخـه ولاړی
تـاچي وکړلـي وعـدي هغـه دي څـه کـړي
ســـتا دلاســـه ووتـــی درځخـــه ولاړي
تاورنـه کړلـي تحفـي دبـڼ بـا غـوان تـه
خوارپـه درکـي کړيـدی درځخـه ولاړی
تحمتونـه يـي دخلگـو پـر ځـا ن يـووړه
سـتا دربـارکي هـستيدی درځخـه ولاړی
سـتا دلاس بنگـړ ی بـه دړي وړي څوك کـړی
تـــا پـــه کاڼوويـــشتی درځخـــه ولاړی
مينـــا نـــه وي د مينـــا لقـــب يـــي درکـــړ
ستاصـفت چـي يـي کـوی درځخـه ولاړی
خپـل دبـڼ مـا ليـار دي وويـشتی پـه کـا ڼو
(يوسـفزی) چـي نوميـدی درځخـه ولاړی

## پیزوان

ما چي ستا ارمان درلودی ته رانه غلې
ما هم بل داستان درلودی ته رانه غلې

هلي ځلي مي داستا پر طرف وکړې
هلته ما بیا ن درلودی ته رانه غلی
ملغلري مي وډلي ګډي وډي
لاس کي ما پیزوان درلودی ته رانه غلې
ما خوستا لپاره شپې ورځې سبا کړې
ما چي ستا سامان درلودی ته رانه غلې
زه به ښکلي یارته څه بهانه کومه
جیب کي ما دیوان درلودی ته رانه غلې
زه بي تا یمه نیمګړی راسه راسه
کام تېر عیان درلودی ته رانه غلې
اوس داستادپاره هرڅه ګر ځومه
(یوسفزي)علان درلودی ته رانه غلې

## په لوټه کې دریاب

زه په تول ېم دسروزرو زه په لوټه کې دریاب یم
زه دلمرد پلوشونه رڼااخلمه محتاب یم

رڼااخلي له ماواړه مادپوهي ورپرانیستي
لکه شمعه یم ویلېږم ځلېدلي یم افتاب یم

دزانگونه بیاترگوره علم فرض دی پرتاوروره
زه دهر عالم په پښوکي هم ایره یم هم تراب یم

زحمتونه مي گاللي زحمتونه به گالمه
ځان منزل ته رسومه هم دسوال هم دجواب یم

(یوسفزی) دشعرپه ژبه وځوانانو ته رغیږي
زه به ښکلی بڼ روزمه دزه بڼ ښکلي گلاب یم

## شگوفه

ماتــه گــل هــم شــگوفه یــې   د سرو گلو گلدســته یــې
پــه زړگي کـي مـي او سـېږې   ښاېسته يـې نازدانـه يـې
هـم مـي زر هـم مـي زېـوريې   تـه هـم زمـادزړگي سـر يـې
تـه مـي سـاز تـه مـي نغمـه يـې   تـه زمـا دژونـدډېوه يـې
تـه مـي روح تـه مـي ښـکلايې   هـم مـي زړكي نـن سبايې
تـه مـي بـاغ تـه مـي باغچـه يـې   تـه زمـاخوږه منـه يـې
هـــم پـــه مينـــه باوفـــايې   زماژوندتـــه محبوبـــايې
تـه نـاول تـه مـي كيـسه يـې   هـم غـزل هـم قـصيده يـې
زه بـــې تايمـــه نېمگـــړی   لكـــه ســـانه لـــري مـــړی
هـم تعلـيم هـم تربيـه يـې   هـم قلـم هـم كتابچـه يـې
(يوســفزي) معلـــم تـــه گرانـــي د سرو قندو پتاســـه يـــې

## سوله

سـوله موخوښـه موږدسـولي پتنگـان يـو
مـــوږدوطن ښـــكلي بچيـــان يـــو

ســـوله چـــي نـــه وي نـــه جـــوړيږي
گـــران افغانـــــان موبربـــــاديږي
پـــه ســوله ويارموږدســولي مينـان يـو

داځولـــسيزي جنـــگ جگـــړې دي
ددې معـــارف ډيـــوې مـــومړې دي
تعلـيم بـه وكړودمكتـب ښـه شـاگردان يـو

پوهـــه ژونـــدون پوهـــه رڼـــاده
وټـــول ولـــس تـــه مـــي وينـــاده
موږدبـــاختراودارين اوخراســـان يـــو

دغـــه وطـــن رابانـــدي گـــران دی
دغـــــه زموږافغانـــــستان دی
غواړويـووالی پـه دې عهدپـه دې پيمان يـو

موږ د معـــــارف ســـــره اشـــــنایو
همــــیش روان پردغــــه خوایـــــو
پــه ســوله ویاړو موږ د ســولي مومنـان یـو

زه (یوســــفزی) معلـــــم روان یــــم
وشــــاگردانوته گویـــــان یـــــم
پـه ښـوونځی کي راتـول سـوي عـالمـان یـو
مـــــوږ د وطن ښـــــکلي بچیـــــان یـــــو

## ترانه

سيمه ده خوشنما        موږ ته ګرانه زيبا
لښکرګاه لښکرګاه        لښکرګاه لښکرګاه

دلته دي اتلان        هم غازيان توريالیان
ددې سيمې نښان        قلعه بست دپخوا
لښکرګاه لښکرګاه        لښکرګاه لښکرګاه

شازلميان اوسېدل        ننګياليان اوسېدل
يادوويې مدام        دالرغوني کلا
لښکرګاه لښکرګاه        لښکرګاه لښکرګاه

که ارين خراسان        که باخترکه افغان
باستاني سيمه ده        تاريخونه ګواه
لښکرګاه لښکرګاه        لښکرګاه لښکرګاه

ترکمن پشه يان        ايماق نورستانيان
که عرب که ګوجر        يوموعهديووينا
لښکرګاه لښکرګاه        لښکرګاه لښکرګاه

براهوي تاجکان        قزلباش پاميريان
ټوله يو افغانان        تل يې ستايم بيابيا
لښکرګاه لښکرګاه        لښکرګاه لښکرګاه

دی ټاټوبی روښان        زموږ جنت زموږ ځان
ټول قومونه دي يو        ميلمه پال په رښتيا
لښکرګاه لښکرګاه        لښکرګاه لښکرګاه

(يوسفزی) دی روان        دخاپوړونښان
هلمند سيند ښکلي دی        هم يې ښکلې هوا

لښکرګاه لښکرګاه        لښکرګاه لښکرګاه

## زاړه یاران

دبـــل لپـــاره کـــارکوي بـــې خـــاره
زاړه یـــاران یـــې وایـــستل لـــه ښـــاره

پـــه چـــل ټګـــۍ یـــې وکړلـــه کارونـــه
پوهـــان خلـــك یـــې وشـــړل لـــه کـــاره
غمونـــه دي دردونـــه ګـــران وطـــن کـــي
خپـــــل وړونـــــه قتلـــــوي داواردواره
دکونـــــــــــــدویتیمانوپرحال ژاړم
داخلـــك نـــه خلاصـــیږي لـــه ازاره
دعـــدل محکمـــې یـــې ورانـــي کـــړي
پردوتـــــه یـــــې جـــوړکړی کاروبـــاره
پـــــه ډلوډلـــــــووژني زموږخلـــــك
صـــحرایې جـــوړه کـــړې لـــه بـــازاره
پـــه جنـــګ کـــي رالویـــان ســـول (یوسـفزیه)
نـــه کـــسب نـــه کمـــال لـــري بېکـــاره

## مکتب

ماهم درس ویلی دي
مامکتب لوستلی دی
زه اسناد په لاس لرم
مازحمت گاللی دی
ورد مکتب خلاص تا ته
ولاړ سه وتعلیم ته نور
نه یمه بېکاره زه
ځان مې رسولی دی
ستالاس کي توپک وینم
وړونه قتلوي گوره
لاس کي کتابچه لرم
ماقلم ساتلی دی
کسب کمال نه لري
لوی جنگ او جگړو کي سوي
نه پرېږدم بې علمه څوک
ماسنگرنیولی دی
توري تیاري ختمي سوي
عصر دعرفان راغلی
نه یم بې سواده زه

ماآمېـــــــــل پيــــــــودلی دی
ښــــــکلي شـــــاگردان لـــــرم
ډيرمـــــــي اســـــتادان کړلــــــه
ښـــــکلي وظيفـــــې لــــــري
ماهرگـــــــــل منلـــــــی دی
وايــــــم (يوســــــفزی) معلـــــم
جنـــگ جگـــړې دي ورکـــي ســـي
ســـــوله آمــــــن غوارمـــــــه
ماشـــــــــــــاگردروزلی دی

## انسان

څومره سخت زړه د انسان دي ښه ځوانان حلالوي
ډلــه یزمــرگ راگډ ســوی مظلومــان حلالــوي

ډیري میندي سوې سرتوري ډیري خویندي په ژړا
یتـــیم ژاړي بابـــاغواړي مومنـــان حلالـــوي

حوصـــله ده ختمـــه ســـوې شـــفقت مهربـــاني
جنـــازې دي هـــدیرې دي عالمـــان حلالـــوي

گـډوډي یـې گـډه کـړې ددې وړونـوترمنځ جنـگ
فـــاتحې دي زمـــوږ پرســـیمه لیکـــوالان حلالـــوي

خـــواري کـــاږي خپـــل بچوتـــه پـــه حلالـــه نفقـــه
مـــزدوران دبـــل پـــه کـــارکي مـــزدوران حلالـــوي

لروبرکـــي دي مرگونـــه داتنکـــي تنکـــي زلمیـــان
(یوســـفزی) پـــرالله ژاړي اســـتاذان حلالـــوي

# قلم

قلم راواخلمه دردونه لیکم
دوران وطن وېجاړ حالونه لیکم

دڅو لسېزو جنګ ځپلي ملت
قلم ته لاس کړمه شعرونه لیکم

پرهره سیه چې یې وینمه زه
بیا یې زخمونه پرهارونه لیکم

څلور طرفه او پر خپله سیمه
وینم وېجاړ ښکلي لعلونه لیکم

د دې ناخوالو سره مل یم مدام
دلروبر دلورغمونه لیکم

ملا په وعظ او نصیحت یادوي
زه په قلم داسې نظمونه لیکم

د ټــــول جهـــان مخلوقـــات وینمـــه زه
خـــواره واره ســـوله ظلمونـــه لـــیکم

حـــال اوماضـــي چـــي (یوســـفزي) لیـــدلي
زمـــان شـــاهددی تاریخونـــه لـــیکم

## یارانو!

یو تر بلــــه شــــفقت کـــوی یـــــارانو
مینـــه مینـــه محبـــت کـــوی یـــارانو

ډیرځوانـــان مـــي ولیـــدل لـــه دنیـــا ولاړل
غېږپـــه غېږســـی رفاقـــت کـــوی یـــارانو

پرېـــږدی پرېـــږدی دنفـــاق کارونـــه پرېـــږدی
رېږ دســـولي اخـــوت کـــوی یـــارانو

ددنیاشـــېبې دي لنـــډي نـــه پـــاتېږو
خپـــل لمونځونـــه عبـــادت کـــوی یـــارانو

دخـــالق پردرباريږولـــه یوځـــای کېـــږو
پـــه هرکـــارکي صـــداقت کـــوی یـــارانو

په یوه نامه یاد پڼووتولو یو
دافغان دکور عزت کوي یارانو

مشران پر کشرانو مهربان وی
یو تر بله صمیمیت کوي یارانو

(یوسفزی) وای پریوه تغرراټول سي
یو دبل سره الفت کوي یارانو

## امانته زندګي

ددنیاشـیبې دي لنـډي یوپربـل بانـدي تېریـږي
ترنـصیبه زنـدګي ده لـوی واړه نـه پاتـه کیـږي
امانتـــه زنـــدګي ده نـــه دچاســـره وفـــاکړي
چي تندي کي وي لیکلي خپل منزل ته وررسیږي
سـوچ ددواړودنیـاوکړه توبـه هرسـاعت پـه کـارده
وخـت تیرېـږي بیابـه نـه یـوبنګلې بـه مـونږېږي
یوڅـوورځي زنـدګي ده د دوو کونوحـساب پاتـه
ظلـم پرېـږده عـدل وکـړه داهرڅـه بـه لیلامیـږي
ښـه ځوانـان لـه دنیـاولاړل پاچـاهي تختونـه پاتـه
جنتونـه یـې نـصیب کـړې وړونوهرڅـه معلومیږي
داجـل غـشی روان دی خطـا نـه لـري ملګـرو
په ښبان کي چي یې راسي پرهغه ځای به ختمیږي
خدایـه بخـښه راتـه وکـړه یـم پرتیروکړوپـښېمانه
(یوسـفزیه) توبـه ګارسـه داهرڅـه بـه موپـاتېږي

# مور

گرانـــه مـــورچي موســـاتله هغـــه ولاړه
چـــي پرموربـــه کړېدلـــه هغـــه ولاړه

غــم یــې پرېــښودی ومورتــه ای ملگــرو
خـــواره زاره تاوېدلـــه هغـــه ولاړه

جنتــونې پــه نـصیب کـړې لویــه خدایـه
ماشـــومان یـــې لویولـــه هغـــه ولاړه

نـــه هیریـــږي یوســـاعت صبرمونـــسته
چـــي پرموربـــه ژړېدلـــه هغـــه ولاړه

دمـورکی غـم پرزړگـي بانـدي زخمـي کـړم
خپـــل بچوتـــه یـــې کتلـــه هغـــه ولاړه

ماتراوســـه داســـي غـــم لیـــدلی نـــه وو
چـــي دعابـــه یـــې کولـــه هغـــه ولاړه

یتیمـــان ســـولودمورغم نـــه هیریـــږي
غریبـــي کـــي یـــې ســـاتله هغـــه ولاړه

نـــه هیریـــږي حجـــانی بـــي بـــي ترمرگـــه
پـــــه دوانــــه جوړېدلــــه هغــــه ولاړه

اوس بـــه کړمـــه ورپـــسي خیـــرات نفلونـــه
چـــي پـــه مابـــه نازېدلـــه هغـــه ولاړه

اوس بـه خـوك کـړي دعاگـاني خپـل بچوتـه
(یوســـفزي) چـــي یادولـــه هغـــه ولاړه

## مورکۍ

نــه مــي هيرېـږي قــدرداني مــوري
نــه مــي زړه کيـږي مهربــاني مــوري
ظــالم مرگــي راځــه پرکومــه يــوړې
راتــه يــاديږي وې نــاتواني مــوري
پرځنکــدن دي ټــول بچيــان کړېــدل
راځخــه چــايوړلې گرانــي مــوري
يـــوه لحظـــه دي هيـــرولای نــسم
دژوندترپايـــه دلوجـــاني مـــوري
جنت فردوس يې په نصيب کړې خدايه
جلالــه موږسـوې قهرمــاني مــوري
پــه تاپــسې خيـرات نفلونــه کــوم
هــم درتــه کړمــه دعاگــاني مــوري
چــي (يوسفزی) دي پــه خــوارۍ لويـوی
الله دي وبخـــښه عيـــاني مـــوري

## شاه ګداء

د دنیا څخــــه روان دی شـــاګداء نـــه پاتـــه کیـــږي
څوك روان دی او څوك وروسته پردې خوانه پاته کیږي

ترنـــــصیبه زنـــــدګي ده ترمنزلـــــه پـــــوري رســـــي
نـــصیب خـــتم د دنیا ســـي پـــه ژړانـــه پاتـــه کیـــږي

سوه ترتورخاورولاندي پرپاك خدای موده سپارلې
داجـــل غـــشي خـــوړلي خامخانـــه پاتـــه کیـــږي

بابـــا ولاړی نیکـــه ولاړی پیـــړی ختمـــه دهغوســـوه
ګرانـــه مـــورهم ســـوه روانـــه ګرانـــه زمانـــه پاتـــه کیـــږي

دعاګـــاني دمـــورواخلی ازارمـــه اخلـــی دزړونـــو
مـــوریتیم کـــړم راســـه ولاړه ســـرپناه نـــه پاتـــه کیـــږي

جنتونـــه یـــې نـــصیب کـــړې پاکـــه ربـــه ستاپه درکـــي
(یوســـفزی) پـــسي روان دی پردنیانـــه پاتـــه کیـــږي

## سوداوزيان

هيخ يوکس نه پاته کيږي په دنياکي
پسله مرګه بياژوندون سته په عقباکي

ددنياژوندون بقانه لري ګرانه
روانېږي به په نن اوپه سباکي

پلارومورنيکه کاکادوستان موخه سول
نښاني دي هديرې په هره خواکي

يوځوورځې موژوندون دی تېروو يې
پام چې سوداوزيان ونه کړې په سوداکي

نازولي دپاك رب له دنياولاړل
څوك لاناست دي په ژړاڅوك په خنداکي

(يوسفزيه) ته به هم له دنياولاړسې
ستاشعرونه به پاتيږي پښتونخواکي

## افغانستان

افغانـــــــــستان دافغانـــــــــانوکوردی
دشـــــــمله ورومومنـــــــــانوکوردی

دلتـــــه دســــــتوردپلارنیکه پاتــــه دی
تـــاریخ یـــې پـــروت دشــــازلمیانوکوردی

آریـــــن باختراوخراســـــان یــــادیږي
پـــروت پـــه آســیاکي دغازیـــانوکوردی

قـــانون دعـــدل اوانـــصاف غـــواړي دوی
ســـــرېي قربـــــان دشـــــهیدانوکوردی

ســــرېي بـــایللی چـــي یـــې بـــدکتلي
تـــوري پـــه لاس دســـــربازانوکوردی

دلتـــه پــــردی اوســـېدای نـــسي گلـــه
ټـــاټوبۍ ښـــکلی دبـــــازانوکوردی

ســوله یــې خوښــه ســوله غــواړي مــدام
مــــدام پـــه ویــــاړي دځوانـــانوکوردی

اتــــل بهادورقهرمانــــــان یـــــادیږي
دي غرنـــــــي دننگیالیــــــانوکوردی

ښـــکلي کانونـــه او ســــیندونه لــــري
تــــاریخ گــــواه داتلانوکــــــوردی

چـــي (یوســـفزی) یـــې پـــه نامـــه نـــازیږي
دپرهیزگـــــــاره متقیـــــــانوکوردی

## اوښکي

لـه سترګو اوښـکي نـه تـویږي زړه دردونـه کـوي
دابــې معنٰــی کلــه بهیــږي زړه دردونــه کــوي

رونـي روانـي وي لـه سـترګوزړګی نـه صـبریږي
هغــه صــحنه ورتــه یــادیږي زړه دردونــه کــوي

چـي کلـه پورتـه کـړي لاسـونه پـه دعـاورب تـه
والله پــاك تــه بــه ژړیــږي زړه دردونــه کــوي

دمـوراوپلارغم پرزړګـي بانـدي داغونـه راکـړل
غـم مـي هرچاتـه معلـومیږي زړه دردونـه کـوي

دزړګـي سرد سـترګوتوریاران مـي ډیریـادیږي
اوښـکي دخوارکلـه دریـږي زړه دردونـه کـوي

زه لــه غموسـره ناشـناوم غـم څپیـړه راکـړه
(یوسـفزی) کلــه کراریــږي زړه دردونــه کــوي

## مینان لټوم

مینــه لــه مینــي پیــدا کیږي مینــان لټــوم
زمــازړگی پــه دې پــوهیږي عاشــقان لټــوم

مینــه هرچاتــه ده څرگنــده ډیریــږ ښــه پېژنــي
حقیقــي مینــه مــي خوښــیږي مومنــان لټــوم

دانــن ســباخلك پرکومــه کومــه خــواروان دي
لباســي مینــه معلــومیږي عــاقلان لټــوم

دغریبانوســره مــل یمــه شــعرونه لــیکم
قلــم مــي ځکــه پرچلیــږي لیکــوالان لټــوم

دشــعرپه ژبــه بــه لیکمــه دحــالاتوانځور
شاعرســړی هــم رایــادیږي شــاعران لټــوم

دبــې وفانــه یــم ملگــري نــې صــفت کومــه
(یوســفزی) وایــي نــه ځلیــږي متکیــان لټــوم

## زه به چیري ولاړسم؟

زه بــه دښــکلي بــاغ بلبــل ســم زه بــه چیــري ولاړســم
زه بــه دیــاردپیکي گــل ســم زه بــه چیــري ولاړســم

قیسمت مي نه پریږدي پرسیمه نصیب چیري بوتلم
وایــم دچاســره بــه مــل ســم زه بــه چیــري ولاړسم

نــصیب قــسمت مــي لــه یارانوڅخــه لیــري بیــایي
زه بــه دکــوم تنــدي کــاکول سم زه بــه چیــري ولاړسم

هرځای چي ولاړسم راته وایي ښه راغلاست ملگرو
لابــه دکــوم یارپربغــل ســم زه بــه چیــري ولاړسم

دظالمانوپــــه دام بنــــدیم وس مــــي نــــه رســــیږي
د(یوســفزي )شــعراوغزل ســم زه بــه چیــري ولاړســم

# ښکلی وطن

ښــــکلی وطـــن راتـــه یـــادیږي مـــسافریمه زه
افغـــان ټـــاټوبی نـــه هیریـــږي مـــسافریمه زه

هرچاتـه خپـل وطـن کـشمیردی هلمندښـکلی ماتـه
خوترکـــــــشمیرلاخوښیږي مـــــــسافریمه زه
ماتـــه جنــت دی ماتـــه ښـکلی دهرځایـــه څخـــه
پـــرزړه مـــي هروخـــت راوریـــږي مـــسافریمه زه
زمادخـــاپوړویوزانګوده هیـــروم یـــي کلـــه
نـــوم یـــي روښـــانه دی ځلیـــږي مـــسافریمه زه
کـــانړي اوبـــوټي یـــي ســـره زردي زه یـــي قـــدرلرم
پـــه دې خوهرســـړی پـــوهیږي مـــسافریمه زه
(دیوســـفزي) معلـــم وینـــا ده دوطنـــه ســـره
هـــیڅ دجګړونـــه نـــه خلاصـــیږي مـــسافریمه زه

## تعلیم

قلــم لــرو تعلیم کــووهم لیکــوالان یــادیږو
مینــه پــالووطن ســاتو دچاځــه نــه بیریــږو

ټوپك دي لاس کي دهرچاښکلي ځوانان قتلوي
نه یي غـواړوني یادوونـه پـه توپـك نـه پـوهیږو

ټوپــك دبــل مرمــی دبــل موټردبــل وګــوره
اورنــه لړونــي بلــو وپــه ســوله ښــه ځلیــږو

مکتــب دی ښــکلی تعلــیم ښــکلی درنــا لاره ده
ټوپــك ســوځو ځــان نــه داغوپــه دغــه نــه یــادیږو

پرسوری ستن نه سو قادر (یوسفزی) وایي داسي
داچــي ژاړونــي جوړووړونوتــه هــم خــښمیږو

## سپینه پاڼه

پرسـپینه پاڼـه بـه دحـال ماضـي کیـسه لیکمـه
شـعراوغزل نظـم داسـتان اوقـصیده لیکمـه

دملغلرواميلونـــــه بـــــه کتارکتـــــارکړم
دتــرنم پــه تـال بــه ښـکلې زمزمــه لیکمـه

قافیه ښکلې ردیف ښکلی صنعت يي ښکلی
پـه وزن تـول دي سـپلابونه يـي پـوره لیکمـه

ښکلی دیـوان بـه مـي پـاتیږي دافغـان پرسیمه
ونـوي نـسل تـه بـې پریږدمـه نغمـه لیکمـه

سـاده حرفونـه پـه معنـی يي هرسړی پـوهیږي
پـردي لغـات نـه کـاروم پښتو سـوچه لیکمـه

دزړه دتـــل دمـــاغ ســوچونه دقلـم پــه ژبـه
دفکـــر تـــال بـــه زنګومـــه ترانـــه لیکمـــه

هنرمندان به یي په ښکلو اوازوکي وایي
دالروبرورونوته هم یوه تحفه لیکمه

داالهامي توري به تل په یادګارپریږمه
دپښتون خوادغرودروښکلي شمله لیکمه

نوم بې ژوندی پردې دنیاوي ترقیامته پوري
ښکلی دیوان به مې ځلیږي تاریخچه لیکمه

قلمه ولیکه شعرونه دحالاتوانځور
د(یوسفزي) دزړه براس په توره شپه لیکمه

## ګناه مي څه ده؟

دشعرپه ژبه وایم تاته ګناه مي څه ده؟
په سپکه مه ګوره وماته ګناه مي څه ده؟

تعلیم یافته په کانوولې داولي ولي؟
واری کوې لاس نیسې شاته ګناه مي څه ده؟

په معلیمۍ کي پیسې کمي خدمت کومه
فکروهم نن اوسباته ګناه مي څه ده؟

روزي ګټم خپلو بچوته حلاله خواري
قدم به وانخلم وغلاته ګناه مي څه ده؟

دکبرجام به دي نسکورسي مغروره ښکارې
پرېږدمه تادغي بلاته ګناه مي څه ده؟

پر(یوسفزي) کوې وارونه ګناه دي خپله
ونیسه غوږ زماویناته ګناه مي څه ده؟

# جنګ جګړې

څول سیزو جنګ جګړو کي سول لویان
ګران ځوانان په توروشپو کي سول لویان

سرګردانه لالهاند ه ګرځي دوی
بې تعلیمه په غمو کي سول لویان
بې هنره بې کماله ګرځېدل
خواروزار سول په نشو کي سول لویان
څوك مهاجر څوك شهیدان سول څوك معیوب
په فکرواواند پښنو کي سول لویان
دلته جنګ ووتوري شپې توري تیارې
دبل ملك لاروکوڅو کي سول لویان
ټوپك نه غواړي قلم یې انتخاب
سوله غواړي خرابو کي سول لویان
تربیه کړه (یوسفزیه) داګلان
دپردیو په دامو کي سول لویان

# خیال

فکر دي یم خیال دي یم بلبل دي یم
غاړي ته مي واچوه سورګل دي یم

جان دي یم بیان دي یم له تاسره
ستا د سر شمله د بګړۍ ول دي یم

زر یمه زیور یمه طلا یمه
ستا سره ملګری یمه مل دي یم

سرپر سینه کښېږده چي دي وستایم
یمه ستا ملګری پر بغل دي یم

حسن یم زیبا یمه ښکاریږمه
نوم دي یم روښانه او مشعل دي یم

نوم به دي پاتیږي پر جهان ګوره
زه یمه ځلانده جل و بل دي یم

هـــاردي يـــم پيـــزوان دي يـــم دغـــاړي ســـتا
نـــه ځمـــه بـــل چاتـــه گـــوره خپـــل دي يـــم

ســـــتادتن جامــــــه يمــــــه ښـــــکلايمه
زلفـــوکي مـــــي وتړومبـــه كاكـــل دي يـــم

پروتـــه ســـه لـــه خوبـــه تاتـــه راغلمـــه
ومـــي ســـاته ځـــان ســـره كجـــل دي يـــم

تـــه بـــه راســـه ولاړســـې يـــادوم بـــه دي
وليكـــه کيـــسه نظـــم غـــزل دي يـــم

وايـــه (يوســـفزيه) الهـــامي تـــوري
ســـتادلاس ليكنـــه يـــم ويـــل دي يـــم

## سوله

دلته هرزلمی ږغیږي
دازموږدمیني شوردی
سوله غواړوآمن غواړو
داوطن دسولي کوردی
ثولسیزي جنګ جګړې وې
دمعارف ډېوې مومړې وې
بې تعلیمه ځوانان وینم
دجګړوهم دغه زوردی

په نشوباني اخته سول
سرګردانه لالهانده
موراوپلاريې دي پرېشانه
ګران بچی ورته پیغوردی
دعرفان عصرراغلی
دتورتم تیاري تېرېږي
ټوپک کښېږده قلم واخله
بیادښمن خپله نسکوردی

وطـــــن مـــــوروطن نـــــاموس دی
داومورجنـــــــــت نـــــــــښان دی
داراکـــت چـــي پـــرې اوربــــږي
پـــــه باروتوســــوئ ســـــکوردی

ای ځوانــــــــانو! رابیدارســـــــــئ
ځـــان لـــه ســـیاله ســـره ســـم کـــړی
پوهـــــه ژوندپوهـــــــه رڼــــــاده
بـــست لرغـــونی هـــم سمـــسوردی
(یوســــــفزیه) تربیــــــــه کـــــــړه
دوطـــــــــن ماشـــــــــومان واړه
وتعلـــیم تـــه یـــې دعـــوت کـــړه
هربچـــــــی پـــــه وینوبــــــــوردی

## سمندر

سمندرپای دی که ناپایه ورګډیږمه زه
ځمه ورځمه سمندرته خوځوځیږمه زه

دآب بازانویم ملګری اب بازي به کوم
ځان ومنزل ته رسومه روانیږمه زه

غاړه ترغاړه سرترپایه معلومیږي کله
خلك که هرځه هرځه وایي نه پاتیږمه زه

کښې روانه ده کمك له کښتیوانه غواړم
کنه نوورك به سم ملګروپناه کیږمه زه

نصیب قسمت به مي ترکومي کومي غاړي یوسي
نوم خود سیند مطلب یې بل دی ورستنیږمه زه

د سمندرڅپې دي سختي لاژوري مختته
(یوسفزی) نه پریږدم لعلونه چې رغیږمه زه

## وطن

خدایه بیاپه ګران وطن کي اوربليږي
هري خواته افغانان وړونه قتليږي

دالرغونی وطن وينم سرولمبوکي
باستاني هلمندمي بياپه اورسوځيږي

دبړش کلني جګړي څه ناخوالي راوړي
اوراخيستي لروبررامعلوميږي

ښائسته وطن به کله ابادوينم
ګران مسکن به موبياکله راجوړيږي

دمرميوبارانونه ګران وطن کي
دامي ورورهغه مي ورورديوژل کيږي

داحمداودميرويس وطن کي ګرځي
(يوسفزی) معلم په وينوکي لمبيږي

## سنگر

دامودپلارنیکـــه گـــودردی پربلـــه نـــه ځـــو
نیـــولی موږورتـــه ســـنگردی پربلـــه نـــه ځـــو

موږداحمـــدمیرویس بچیـــان یومورچـــل موښـــکلی
دامودناســـتي یـــوډگردی پربلـــه نـــه ځـــو

زموږدخاپوړوگلـــستان دی پـــه ویاړومـــدام
کورموپرلراوکـــه پربـــردی پربلـــه نـــه ځـــو

غرونه سیندونه یې دي ښکلي اقلیم یې گوره
تورشـــپه ختمـــه روڼ ســـحردی پربلـــه نـــه ځـــو

غلـــیم خـــوړلي گذارونـــه تـــاریخ لرومـــوږ
داموو جودداموبـــشردی پربلـــه نـــه ځـــو

قلـــم راواخلـــی مومنانوتوپـــك څـــه کـــوو
(یوسفزی) وایي سخت خطردی پربله نه ځو

## څادر

پــه تورڅــادرکي معلــومیږې درځــم بــه کلــه
مــنم زړګــي کــي مــي اوســېږي درځــم بــه کلــه

ســتاددیدن ارمـــان لرمـــه کـــه ژونـــدوباقي
پرپاکــه خــاوره راښــکارېږې درځــم بــه کلــه

پــه شــپه اوورځ کــي پنځــه وختــه داســتاپرطرف
فکراوخیــال کــي مــي اوســېږي درځــم بــه کلــه

ارمـــان دزړه پـــوره کومـــه یـــادېږې مـــي هـــم
پـــه هرســـاعت راتـــه یـــادېږې درځـــم بـــه کلـــه

پــه ژونــدکي داارمــان لرمــه جانــان دی هلتــه
د(یوســـفزي) کلـــه هېرېـــږې درځـــم بـــه کلـــه

## عمر

عمر تیر ســـــــــو په غمــــــــوکي
ددې وخـــــت پـــــه توروشـــــپوکي
لاالهانــــــــــده موزونــــــــدون دی
چــــــي راگیریو پــــــه دامــــــوکي
لروبر کـــــــــــي دي اورونـــــــــه
لولپــــــــــه زموږ کورونـــــــــه
لاپـــــــــه ډلو ډلــــــــــــووژني
هرطــــرف پــــه جنـــگ جگړوکــــي
پـــــه لکهاوشـــــهیدان ســـــول
پـــــه لکهاوســـــول معیوبـــــه
ډیرلـــــه ملکـــــه څـــــه مهاجرســـــول
دپردیو پـــــــــــه کوڅــــــــــوکي
دافغــــــان کــــــورگی ورانیــــــږي
څـــــه ځوانــــــان موتبــــــاه کیــــږي
مینـــــدي بـــــوري خوینـــــدي کونـــــډي
یتیمــــــــــان ژاړي زانگــــــــــوکي
نـــــن دهرزلمـــــي پـــــه لاس کـــــي
تورټوپـــــك لـــــه وراېـــــه ښـــــکاري
بـــــې تعلیمـــــه رالویـــــان ســـــول
دپردیو پـــــــــــه جهیلـــــــــوکي

تعلیم پاته هنرپاته
یولګیادبل په کارکي
نه قلم نه کتابچه سته
زموږپه ټولومدرسوکي
(یوسفزی) مدام ږغیږي
وینې ګران په توروشپوکي

## ښوونکی

تــرې او بوتــه رســو مه ښــوونکي يمــه
عــصارندوته ورکومــه ښــوونکي يمــه

دمومنانوســره مــل يمــه پرخپلــه ســيمه
گــران مومنــان بــه پوهومــه ښــوونکي يمــه
داوظيفـــه ده مقدســـه پوهيږمـــه پـــه
کــسب کمــال تــه يــي ليږمــه ښــوونکي يمــه
کتــاب قلــم پــه لاس کــي اخلــم تــدريس ورکــوم
گــران لــه غربتــه خلاصــومه ښــوونکی يمــه
پوهــه ژونــدون پوهــه رڼــاده ځليــږم مــدام
تــل وعــصري تعلــيم تــه ځمــه ښــوونکی يمــه
جهانيــان ولاړل ترمريخــه تعلــيم يــې کــړی
داکتـــابچوکي ورليکمـــه ښـــوونکی يمـــه
قلــم راواخلــه (يوســفزيه) نظمونــه ليکــه
دشــعرپه ژبــه يــې پالمــه ښــوونکی يمــه

## هجرت

تعلـیم پاتـه سـوله مانـه دهجـرت پـه توروشـپوکي
هـم لـه مانـه هـم لـه تانـه دهجـرت پـه توروشـپوکي

دلتـه جنـگ وتـوري شپې وې هـري خواتـه غلبلـې وې
گرځېدوبــه ســرگردانه دهجــرت پــه توروشــپوکي

پـردی ملـك پـردئ كـوڅې وې پرسـپېره دښـت مـوخېمې وې
یوتربلـــه ووپرېـــشانه دهجـــرت پـــه توروشـــپوکي

څـوك روان سـول پاكـستان تـه څـوك روان سـوله ايـران تـه
څـــومره ورك ســـول لـــه جهانـــه دهجــرت پــه توروشــپوکي

څوك ټوپك سره اشناسول څوك لـه خپلونـه جلاسـول
زمورګیلـه نـه وه لـه چانـه دهجـرت پـه توروشـپوکي

اوس هــم هغــسي كيــسې دي دمعــارف دېــوې مــومړې دي
(یوســفزی) ســومه ســتومانه دهجــرت پــه توروشــپوکي

**ټاټوبی**

ګــران ټــاټوبی دافغــان دی
دازمونږجنــــت نــــښان دی
دلتــه ســوله آمــن غــواړو
هربچـــی یــې قهرمـــان دی

داعـــــزت دافغانـــــــانو
دبهادروشـــــــــازلميانو
دآريـــن پــه نــوم يـــادیږي
کـــه باخترکـــه خراســان دی

پــــښتانه کــــه هــــزاره دي
براهــــوي کــــه قزلبــــاش دی
تــــرکمن دی کــــه تاجــــك دی
يوموعهـــــــديوموپيمان دی

کـه ایمـاق نورسـتانیان دي
پامیریـان کـه پـشه یـان دي
هـم عـرب دي هـم گـوجردي
راتــه گـران افغانــستان دی

(یوسفزی) همېش پـه ویـاړي
داهیواددټولوکــــــوردی
دآسـیاپه زړه کـي پـروت دی
وطــن مــوروطن ایمــان دی

## غمی

غمی پورته کړه له خاوروڅلېدلی پرجهان دی
باتعلیمه باهنره شعرغزل کي يې بيان دی

فیصله نوروته پاته حق باطل به معلومیږي
دځوانان په ډګرکي وسیالۍ ته راروان دی

دهرچاپه زړه کي اوسي استعداديې معلوم داره
په جهان کي ځلېدلی مهربانه قهرمان دی

تخصص يې دی په لاس کي دآدب ښوونځۍ يې لوستې
دآدب ډګرته دروميي قدرمن دی قدردان دی

(یوسفزی) دشعرپه ژبه ویارانوته رغیږي
جهانیانوپېژندلی مسلکي دنن زمان دی

## ماشوم

هغـــــه وخـــــت چـــــي زه ماشـــــوم وم
عجیبـــــه غونـــــدي معـــــصوم وم
خپـــــل خـــــواري بـــــه مـــــي کولـــــه
موراوپلارتـــــه مـــــي راوړلـــــه
نـــــه بـــــې ځایـــــه ګرځېـــــدلم
وخپـــــل لوبوتـــــه ورتللـــــم
نـــــاخبره لـــــه غمـــــووم
بنـــــدمیني پـــــه دامـــــووم
وتعلـــــیم مکتـــــب تـــــه تلمـــــه
پـــــه خپـــــل شـــــوق ورســـــتنېدمه
مـــــاکړه خپلـــــه ځـــــواني تیـــــره
اوس غمونـــــه ســـــول چـــــاپېره
هـــــري خواتـــــه جنـــــګ جګـــــړې دي
تـــــوري دربـــــي تـــــوري شـــــپې دي
څـــــه ژړاڅـــــه فریادونـــــه
نـــــه ختمیـــــږي داجنګونـــــه
څولـــــسیزي جنـــــګ جګـــــړې دي
دمعـــــارف ډېـــــوې مـــــومړې دي

نـــه مکتـــب نـــه مدرســـه ســـته
نـــه دپـــوهي علاقـــه ســـته
ماشـــومان موړالويـــان ســـول

پـــه جنگونـــوکي ســـتومان ســـول
(يوســـفزی) مـــدام کړيـــږي
ماشـــومانو ته ږغيـــږي
مـــاکړه خپلـــه ځـــواني تيـــره
اوس غمونـــه ســـول چـــاپيره

## نه يې غواړو

چـې زمونږ پـه ګټـه نـه دي نـه يـې غـواړو
هـم حـرام دي هـم ترخـه دي نـه يـې غـواړو

انــسان وباســي لــه حالــه ځــې کــوم
تــاراوړي داپــه څــه دي نــه يــې غــواړو

توراوسـپين چـې ويـنم سـتاپه لاس کـې ډيـر
چاويلــه چــې خــوا‌ږه دي نــه يــې غــواړو

چـې دي وباسـي لـه ژونـده څـه يـې خونـد
سـتاکه هرڅـومره پـه زړه دي نـه يـې غـواړو

(يوســفزی) تاســوته وايــي مــه ورځــی
چـې کوکنارغونـدي هرڅـه دي نـه يـې غـواړو

# ژوندون

ژوند مو تیر سو په جګړو کې
لا را ګیر یو په دامو کي
دلته لوبي دي رواني
را معلوم په میدانو کي

دغه کور د شازلمیانو
د بهادرو توریالیانو
چا چي بد ورته کتلي
هان سکور دي په غمو کي

چا دوستان راته ویله
شاو خوراتاو بدله
لرو بر سوله چاپېره
ټول پراته دي په مورچو کي

زموږژونـــــــدیې راتبـــــاه کـــــړ
خــــــدای دي دوی تـــــه ســــــزاوکړي
ثــــه مهاجرثـــــه شـــــهیدان ســــول
دهجــــــرت پــــــه توروشـــــپوکي

دتعلـــــیم ثخـــــه محـــــروم ســــول
کمــــــــال پاتــــــه هنرپاتــــــــه
دقلـــــم ځـــــای ټوپـــــك ونیــــــو
لولپــــــه ســــــول پـــــه اوروکــــــي

مینـــــدي بــــوري خوینـــــدي کونــــډي
یتیمــــــــان پــــــه چغــــــــوژاړي
لروبرکورونـــــــــه وران ســـــــــول
ښـــــه ځوانــــــان دي پــــــه قبروکــــــي

دپردیوپـــــــه جـــــــال بنــــــدیو
(یوســــــفزی) لــــــه خپلـــــــوژاړي
یولـــــــه بلـــــه ســـــــره وژنـــــو
چــــــي پراتـــــه یوپــــــه کوثــــوکي

## خزان

دخـــزان بادوســـوځلي دبهارپـــه طمـــع طمـــع
راته ګران دي دابڼاغلي دخپل کارپه طمع طمع

دتــورتم تيــارې تېرېــږي دعرفــان عـــصرراغلی
چې محروم وه زموږراغلي دسينګارپه طمع طمع
دږليوبارانونوســــــېلابوپه مخــــــه يــــــوووړو
څــه ګټلـــي څــه بــايللي ددلدارپـــه طمــع طمــع
پــه سنګرکي ورتــه ناست دي درپروتړی دپوهي
داهرڅــه يــې پرتپلـــي دګلزارپـــه طمـــع طمـــع
خپل يې وروزل بهرکي موږپـه کورکي پـه ژړايـو
زموږيتيم ماشوم ژړيږي دخپل پلارپه طمع طمع
اوس پـه هرڅـه پوهېدلي نه بې وباسې لـه کـاره
داپېـــودلي ملغلـــري دکتارپـــه طمـــع طمـــع
(يوســفزی) دشــعرپه ژبــه ماشــومانوته ږغېــږي
ذده کــوونکي يــې روزلــي دســهارپه طمع طمـع

## جګړې

څــم لــه دې کلــي لــه دې ســيمي لــه دربــاره وځــم
دلتــه جګــړې دي لــه دي ځايــه لــه دې ښــاره وځــم

زه له تعليم څخه محروم سوم بچيان هم پاته سول
ځــان لــه تورتمــه خلاصــوم لــه دې غبــاره وځــم

زه چـــي لـــه خپلوڅخـــه ژاړم پـــردي څـــه کومـــه
ســيمي دخــداى پراخــه ســيمي زه لــه ډاره وځــم

دقيامــت ورځــي دي پرمــوږتعليم نيمګــړى پاتــه
بلـــه روزي پيداکومـــه لـــه دي کـــاره وځـــم

بچيان روزي غواړي له مانه ژوندغموکي تيرسو
ځـــان بـــه منـــزل تـــه روســـمه لـــه کتـــاره وځـــم

(يوسفزی) سوله غـواړي آمـن غـواړي زماملګرو
چـــي ماشـــومان نـــه ژړومـــه لـــه ازاره وځـــم

## ځوانان

جامعــه چــي جــوړوي دغــه ځوانـــان دي
پـــــروطن ســــروركوي دامينـــــان دي

دملاتيـــردي نـــه كتيـــري نـــه مـــاتيري
ســــرومال چـــي پرښـــندي دامومنـــان دي
چـــي يـــې مينـــه لـــه وطنـــه ســره نـــه وي
داچـــي وروڼـــه قتلـــوي داقـــاتلان دي
وطـــن مـــوروطن نـــانوس وطـــن ايمـــان دي
خپلــــه مـــــورچي ژړوي داليونيـــــان دي
دپردوپـــه لمـــسون خپـــل لـــه كـــوره باســـي
هـــسي اوښـــكي تويـــوي هـــم غـــداران دي
ځـــوان هغـــه دی چـــي دځـــوان كارونـــه وكـــړي
شــــاگردان چـــي مـــوروزي دااســـتاذان دي
(يوســــفزی) معلـــم روان دعلـــم لورتـــه
ماشـــومان چـــي پوهـــوي دغـــه پوهـــان دي

**مغروره**

پـــه خپـــل حـــسن ده مغـــروره حـــسن داره
کبرجنــــــــه ،قهرېـــــــدلې ،ګلرخـــــــساره

پـــه عـــادت کـــي يـــې ازارزمـــادزړه وو
دابـــــې حــــده ده مغـــــروره جلــــوه داره

پـــه ښـــوځلي يـــې دخوبـــه يـــم ايـــستلى
وې ايـــــــستلم وصـــــــحراته واردواره

دخـــوارۍ اوغريبـــۍ يـــې يـــم ايـــستلى
شـــوخه ګرځـــي شـــوخ کتـــل کـــوي خمـــاره

شـــوخه شـــوخه برملاګرځـــي دې بـــڼ کـــي
دانجونوپـــــه ټـــولۍ کـــــي ده ســـرداره

(يوســـفزي) تـــه يـــې ګذاردسترګوســـم کـــړ
دپوډروفيـــــــشيني ده معلومـــــــداره

## بهیر

دبهیرښـــــــکلی دفتــــــــردی
ادیبـــــان پکـــــښي اوســــیږي
ټولـــــه ورځ ترمـــــــازیگره
لیکـــــوالان پکـــــښي اوســـیږي

څــــه بــــه زده کړوپــــه بهیرکــــي
څــــه بــــه یوســــوله بهیــــره
غــــوړولی یــــې څــــادردی
شــــاعران پکــــښي اوســــیږي

دآدب ټغـــــــردی ښــــــکلی
لروبرشـــــــاعران دلتـــــــه
هرشـــــاعرمي دزړه ســــــردی
بلــــبلان پکــــښي اوســــیږي

دلتــــه ښــــکلي شـــــاعران ســــته
لیسانــــسه هـــم ماســـــټران ســـته
پورتــــه لاس خــــلاص مـــي ځیگـــردی
عالمـــــــان پکـــــــښي اوســـــېږي

نثـــــــــــرواوری غـــــــــزل واوری
قـــــــصیده اوهــــــم نظمونـــــــــه
هـــــم لــــــیلاهم مـــــي دلبـــــردی
عاشــــــقان پکـــــښي اوســــیږي

ښــــه نعتونـــــه زمزمــــــه کــــړي
طالبــــــــان ورتـــــــه راغلـــــــي
(یوســــــفزی) پـــــه دې خبـــــردی
اســــــتاذان پکـــــښي اوســــیږي

## ټوپک

ټوپـــک راواخلـــی امنیـــت لپـــاره
دځـــان ســـاتني دعـــزت لپـــاره

دتورټوپـــك لـــه خـــولې اورونـــه وځـــي
راوریـــې نـــه خلیٔ دقـــدرت لپـــاره

قلـــم پـــه وســـتایم ټوپـــك غندمـــه
دخپـــل تعلـــیم داهمیـــت لپـــاره

ټـــولي نـــاخوالي لـــه ټوپکـــه زیـــږي
اســـتعمالیږي دقـــوت لپـــاره

پـــه زوروروزمـــي وس نـــه رســـیږي
نیـــك قـــدم واخلـــئ دهمـــت لپـــاره

تـــوري تیـــارې یـــې غـــوړولي موږتـــه
نـــاخوالي راوړي دملتـــه لپـــاره

وماشـــــومانو ته تعلـــــيم ورکــــوم
دنېـــك مرغـــۍ اوســـعادت لپـــاره

ميندي يې بوري خويندي کونډي سولي
لاژړوي دمــــال دولـــــت لپـــــاره

څـــــوورځي ژوندموپردونياپاتــــه دي
(يوســـفزی)ځـــي دعبـــادت لپـــاره

## مینه

مینــه ورکومــه راتــه گــران دي مومنــان
ښــکلي یادومــه مهربــان دي اســتاذان

شمعي دي بلیږي راته گران دي کوچینیان
درس تـه یـې لیږمـه قـدردان دي شاگردان
لاره دخلاصـون ده عصاواخیـستل ړنـدو
هریوپوهومـــــه اتـــــلان دي افغانـــــان
څـه لـه راتـه وایـې ځـان منـزل تـه رسـوم
داگـلان سـاتمه چـې خـزان دي نـن زمـان
پورته سه له خوبه پـه هنر کړه ځان سنبال
غیږه کي یې نیسم بلبلا دي شنه طوطیـان
کم نـه یاست لـه چانـه تاریخونـه موپراتـه
ځان ورته حاضرکړي ماسټران دي عـالمان
واخلـئ قدمونـه (یوسـفزي)معلـم مومـل
ځوپه دي کاروان کي شاعران دي شاعران

## ښوونځی

ښــوونځي ځــای دمتقیــانو دپــوهي مرکــز
دپرهیزګـــاره عالمـــا نودپـــوهي مرکـــز

طلب دعلم دي حا صل کړه چي پـا تـه نه سي
لــــــښکرجوړدطالبانودپوهي مرکــــــز

مدرسه ښکلي نوم يې ښکلي حجري لـري تـل
نـــسته کمـــي دا ســـتاذانودپوهي مرکـــز

علـم پرنراوښـځه فـرض دي دينـي اوعـصري
تـــل خوښـــوي يـــه مومنـــان دپـــوهي مرکـــز

حق او باطـل پکښي روښـانه تـدريس ورکـوم
ورد‌رتـه خـلاص دي شـاګردانودپوهي مرکـز

(یوسـفزی)ستاسوسـره مـل دي پوهنـه رنـا
ښـــه دي لرويـــې ماشـــومانودپوهي مرکـــز

## یوسفزی

دانـــــــــن سبایوســـــــــفزی
دشاوخوایوســـــــــــــــفزی
دلروبرپرســـــــــــــــیمه
دپـــــــــــښتونخوایوسفزی

داتلانومــــــل دي دلیکوالانومـــــل دی
دی دښـــــــوونکوپه نـــــــوم
تیـــــــــردی دملایوســــــــفزی

دلیکوالانوســــــــره دشاعرانوســــــره
مهربـــــــاني یـــــــــې ســــــــتایم
دی پــــــــــه رښتیایوســــــــفزی

دي پرراتـــول عالمـــان دمکتبوشـــاگردان
انـــــــاث ذکـــــــوریې ســـــــتایي
معلـــــــم موســـــــی یوســــــفزی

# پسرلي

نوي کال دی پسرلی دی
هره خواتازه هواده

دبلبلواوازونه
شنه فضاښکلې بدیاده

دښتي غرونه دي سمسوره
دکوچیانوکډوباردي
رمې څاري غرودروکي
زرغونه دښته بدیاده
]
دنوروزاوله ورځ ده شپه اورځ د برابره
دپسرلي نسیم چلیږي
هره خواځومرشفاده

شکوفې دي غوړيدلي هره سيمه خوشناده

(يوسفزي) گيدۍ راوړي
دخپل يارسرې خنداده

**دنوروزاوله ورځ**

دبموپرموږهستي ده
دتوپونودربهاردی
نوکال نوي نوروزدی
ښايسته ښکلي بهاردی

دباروتوبدبويي ده دمرميواوازونه
خلگ ډلي ډلي وينم
لاتراوسه شين سهاردی

نوي نه سولې خبري لاهمداسي
توري شپې دي
درناپه طمع طمع
وران زموږ ښکلی گلزاردی

سوله غواړوآمن غواړو
داوطن دسولي کوردي
ديوروڼ سهارپه طمع

زمونږ وســـــــولي تـــــه تلــــواردی

(یوسـفزی)دشـعرپه ژبـه  رنګ دسـولي
خپـــــــــــروي تـــــــــــل
وطنوالوتـــــــــه رنګیــــــــرنی
پراونږومـــــــي دغـــــم بـــــاردی

**پلار**

زما خو ښيږي په عادت کي د خپل پلار لار
را بـــه ورمـــه د بازار څخـــه سـهارهار

مـــوراو پلار دي مهربانـــه پرزامنـــو
خدايـــه مـــه راولـــې دلتـــه پرگلنارنـــار

شـــفقت لـــري پرخپـــل اولادونـــو
منظروتـــه بـــه يـــې بيـــايي د گلـــزارزار

خپـــل بچيـــان يـــې دي ليږلـــي مدرســوته
پـــه مـــوټرکي وروان دي پـــه تلـــوار وار

(يوسـفزي)مـدام سـتايلي اسـتاذان دي
مـــاراوړي ملغلـــري د کتارتـــار

## محبت

که څوك ژوند د محبت غواړي دنیا کي
وروروَلي او صداقت غوړي دنیا کي

نودی ژبه کړی عادت په ښوخبرو
که د تېوله ژوند عزت غواړي دنیا کي

بدله بدو څخه زیږي زما وروره
بداغزي لري محنت غواړي دنیا کي

د خبرو تپ هیڅکله نه جوړیږي
گرانه گراني څه الفت غواړي دنیا کي

(یوسفزی) معلم د شعر په ژبه وایم
ځان ساتل هم حفاظت غواړي دنیا کي

## سیالان

دسیالانو ســـولې پاتــــه
درتــه وایــم گــوره ماتــه
زه دپــوهي کــړم کارونــه
دتعلــیم پرډگرتاتــه
وظیفـه مـي مقدسـه زحمتونـه مـي گـا للـي
مــسلکي دنــن زمــان یــم
زه روان یــم بــکلاته
مــادپوهي ورپرانــستي دعرفــان عــصراغلی
ډیرمــي وروزل مکتــب کــي
گــوره یــاره زماخواتــه
څـه انـاث څـه یـې ذکـوردي مـامنزل تـه رسـولي
نــن یــې ویــنم وظیفــوکي
تــه روان یــې وبلاتــه
(یوسفزی)معلم ږغیږم تـه هم ولاړسه ښوونځی ته
تعلــم فــرض دي پرتــا بانــدي
تــه لادرومــي تــل وشــاته

## تعلم وتربیه

پـــه تعلـــیم وتربیـــه بانـــدي انـــسان دی
بـــې تعلیمـــه دړا نـــده ســـړي پـــه شـــان دی

بـي تعلیمـه سـړي ړونـدي کـوڼ دي شـل دي
بـــي کمالـــه پرهرچابانـــدي تـــاوان دي
پوهـــه ژونـــد پوهـــه رڼاپوهـــه ژونـــدون دي
دتعلـــیم پـــه زیوربـــکلي نـــن هرځـــوان دي
چـــي تعلـــیم وتربیـــه ورســـره مـــل وي
هـم مـي زړه هـم مـي ځیگـرهم مـي جانـان دي
موربـــــه تاســـــوباندي ویـــــاړووطنوالو
ښـوونځۍته چـي راځـي رابانـدي گـران دي
خپـل اولاد چـي دتعلیمـه کـړي بـي برخـي
(یوســـفزی)وداســـي خلکوتـــه حیـــران دي

## الهامي توري

الهامي توري ليکمه ديوګل په طمع يمه
چي پرزړه مي راوريږي دغزل په طمع يمه

زه هم شعر نظم راوړمه هم کيسي څه هم نثرونه
اولسي ملي حماس خودکاکل په طمع يمه

زه دفکرپه ټال زانګم مادبڼ ماليارى کړي
زه دښکلي بڼ ماليار يم دچارګل په طمع يمه

دقلم په ژبه تاته شعرغزل وايم هرچاته
نوي نسل تربيه کړم دسنبل په طمع يمه

(يوسفزى)معلم رغيږم مادوخت انځورليکلي
داعيان دامي بيان دي دناول په طمع يمه

## قراني قانون

نــه ورانیــږي قرانــي قــانون دنیــاکي
دي محفوظــه پــه دنیااوپــه عقبٰــی کــي

دقـــران او داســـلام ضـــامن الله دی
اســماني کتــا ب برحقــه شــا وخــواکي

دقیامــت تر ورځــي داقــانون دي چلیــږي
علمادغـــه کـــلام ســـتايي وینـــاکي

قــال الله قــال رسـول بانــدي عمــل کـړي
چــي دالاره غــوره نکــړي پــه ســزاکي

(یوسـفزی)معلـم ددي قـانون پیـروي دي
گتهــي ســته پــه عــاجزي اوپــه تقــواکي

## ښوونځی

ښـــوونځی چي ســوځوي عالمـــان نــه دي
مدرســه چـــي ورانـــوي ملايـــان نـــه دي

کـه دينـي وي کـه عـصري تعلـيم پـه کـاردي
ماشـــومان چـــي کـــړوي مومنـــان نـــه دي

دبـي علمـه بـي تعليمـه بـه څـه جوړسـي
چـي داکـار تـي هڅـوي ليکـوالان نـه دي

عقايـــد منطق تفـــسيرسته مکتبـــوکي
لـه دي زده کـړي يـي ساتي استادان نه دي

يوســـفزی، معلــم وتاســـوته گويـــان دی
چـــي فتـــواوي ورکـــوي مينـــان نـــه دي

## چوکی

واك قدرت چوکی پاتیږي دانه ستاده نه زماده
داچي هرچاته رسیږي اخیرپاته دبل چاده

یوځوورځي زندگي ده ورځه پاته یې هستي ده
مه کوه غټې خبري هغه شخص ته مي وینا ده

عدل وکړه انصاف وکړه بیت المال دنوروخلګو
چي بې ځایه مصرف نه کړې داګټلې نیمه خواده

قام ته وکړه خدمتونه چي دي وستایي قومونه
نه ورکیږي معلومیږي دا خبره هم رښتیاده

یوسفزی معلم رغیږم داچوکی ته به رسیږم
پته نه ده دابښکاره ده زمادکارلاره صفاده

## ښکلي سترګي

دښکلوښکلي سترګي سرې له کاره باسي
دملغلروپه شان مي له روزګاره باسي

ښکلي مي زړه کي اوسي ښکلاهم مینه لري
په مینه مینه ګوري دامي له ښاره باسي

غلام دښکلو یمه په زړه کي ځای لري زما
په یونظردلیدومي واردواره باسي

په خوب کي ماولیدې دجانان ښکلي سترګي
چي راپه یادیې کړمه ماله خماره باسي

تل یې لیدوته لیوال یم دهغوچشمانو
یوسفزی داسی سترګی له کاراوباره باسي

## داپيغورنه ګڼو

لامــوزلمي دي پــه ســره اورکــي داپيغــور نــه ګڼــو
لامــوپردی اوســي پــه کــورکي داپيغورنــه ګڼــو

نوبيابهــادره اتــلان وځــان تــه څــه لــه وايــو
نــن مــزدوران يوپــه لاهــورکي داپيغورنــه ګڼــو

ترهنــــدوچين واصـــفهانه مولـــښکري تللـــې
نــن بنــد يوخپل کلــي سمــسورکي داپيغورنــه ګڼو

پــه ســوري ســتن نــه ســو قادرنــه دتعلــيم پرلورځــو
لامـــوتعليم والانـــسکورکي داپيغورنـــه ګڼـــو

مدرســه ورانــه مکتــب ســوځي ګاونــډي تــورمخي
بيادغــه حــال راتــه انځــورکي داپيغــور نــه ګڼــو

دلتــه دهرڅــه قیمتــې دانــسان مــرگ ارزانــه
پــه ډلیزمــرگ مودگــورکي دا پیغورنــه گڼــو

پیغـو ریـې څـه لـه نـه گڼـو هرڅـه موچـور تالاسـول
کــه (یوسـفزی)پـه وینوبـورکي داپیغـو رنـه گڼـو

## شیرین وطن

شـــــیروطن رابــــا نــــد يگـــــران دی
دغــــــه زمـــــــوږ افغانــــــستان دی

پـــــه ســـــوله ویاړوســـــوله غــــواړو
هریوافغـــــان پـــــه دې ارمــــان دی

دلتـــــــــــه دســــــــولي اوازې دی
هلتــــه وطـــــن کـــــي مــــوجګړې دی
پــــــه دې جګړوکــــــي موتــــاوان دی

دادرې لـــــسیز ي جنـــــګ جګـــــړې دی
جـــــوړي ومـــــوږ تــــه دسیـــــسي دي
لــــه هـــر طــرف پــر مـــوږ حملـــي دې
وطـــن مـــو ســـوځي پـــه لمبـــوکي
هـــر څـــه ویجـــاړ ســـول دغـــه شـــپوکي
نــــن هرافغـــا ن پـــــه دي ګویـــان دی

ته و پکه تا به ماتومه
ته وپکه تا به وره کومه
افغان له تانه خلاصوم
قلم به پورته کړم له خاورو
تعلیم ته ځمه نه پاتېږم
علم به زده کړم په نا زېږم
تا ته وبی زموږ جنت نښان دی

ډېوی به بلی دوطن کړو
دغه سمسوربه خپل چمن کړو
بیابه اباد دا خپل گلشن کړو
تیاري به ختمي دوطن سی
موږ خود سولي په ارمان یو
نن دمعارف پرلور روان یو
دهر یتیم څري گریوان دي

سوله چي نوي نه جوړیږي
په جنگ جگړو هیڅ نه رغیږي
گران افغانان مو بربا دیږي
دجنگ یو سړي سوله غواړو
دا گران وطن مو د جرگو دي

ددي اولس دمرکو دي
هر یو شاعر په دي گو یان دي

راسي وطن ته ابادي راولو
وخپل مسکن ته خپلواکي راولو
وگران گلشن ته ازادي راولو
نن دعرفان عصر راغلي
تعلیم ته ولاړ سئ مومینانو
علم به زده کړئ افغانانو
ارین باختر اوخراسان دي
نازوملاله زرغونه وه
دهرافغان دلاس منه وه
دهر افغان دزړه ټوټه وه
څنگ کي ولاړي وي دوړونو
اکبر میرویس که احمدخان وو
تاریخ یي پروت ترهندوستان وو
نن مومسکن دجنگ میدان دي
مینه یو والي صداقت به کوو

ښه روحیه او عدالت به کوو
غواړو یو والي خپل وطن کي
ورکړي یو بل ته دوروري لاسونه
غیږ په غیږه د دوستي لاسونه
(یوسفزي) معلم داستان دي
شیرین وطن رابانـدي ګران دي

# معلمه

معلمه قدراونښان لري
ثومره عزت پرټول جهان لري
ستا ونامه ته مي سلام سلام
موږته عزيز شيرين زبان لری
پوهه هنراوعلم ستادی
ستادزبان ښخه گويادی
جهان په تاټوله رڼا دی
موږيوروزلي ستاله خوانه
ته يې په شان دموراوپلار
عزت درکړي دي بادار
ته ترحم پرهر انسان لري
معلمان حق پسي روان دي
مدام دجهل دښمنان دي
ځوانان دعلم پتنگان دي
شپه اوورځ كاندي زحمتونه
معلم ښاغلي ددنيا دي
ډيرپلانونه دخپل ځان لری
زموږ پاك رسول ته معلم وايي

پاك مبارك ته عالم وايي
معلم عزت لري ښاغلي دي
واسمانو ته دي ختلي
داد معلم دلاس روزلي
افغانه ښكلي اتلان لري
څومره يې ستړي او ستومانه
ته كړي خدمت دټول جهان دي
پرتاراټول دي شاگردان
ته دبابا په نوم يادېږي
ستاونامه ته مې سلام دي
ډيرباعزته ستامقام دي
ته ښه تحفه دقهرمان لري
ته يې ښوونكي نوي نسل روزي
ته يې پالونكي نوي فصل روزي
څه ډاكټران څه طبيبان دوطن

څه پا چاهان څه عالمان دوطن
ښوونكي ستا دلاس روزلي
واسمانو ته دي ختلي
لا (يوسفزيه) لوي ارمان دي

**څلوریزه**

کــه څــوك غــواړي دالله ســره خبــري
پــه لمانځــه کــي دمــولا ســره خبــري
کــه تــه غــواړي دخپــل رازاونيــا زخبــري
ددووکونـــــو دپاچاســـــره خبـــــري

**څلوریزه**

دسروشـــوندوله دربـــاره ليـــري مـــه ځـــه
هـــم دښـــکلوله بانـــداره ليـــري مـــه ځـــه
مـــدام اوســـه دښـــکلا پـــه ســـمندر کـــي
دنـــازولو لـــه ســـنګاره ليـــري مـــه ځـــه

**څلوریزه**

پــه ټوپــك ملــك نــه جــوړيږي قلــم واخلــه
بـــې تعليمـــه نـــه رغيـــږی قلـــم واخلـــه

قلـــم پورتـــه کـــړه لـــه خـــاورو (یوســـفزیه)
افغانـــان مـــو تـــا کيـــږي قلـــم واخلـــه

## څلوريزه

زه دتعلـيم سـره اشـنايم ټوپـك نـه پيـژنم
داچـي روان نـن اوسـبايم ټوپـك نـه پيـژنم

يمـه معلـم تعليم بـه وركـړم شـاګردان روزمـه
مـدام روان پردغـه خـوا يـم ټوپـك نـه پيـژنم

## څلوريزه

ټوپکـه تـا بـه سـوځوم قلـم پـه لاس ولاړ يـم
ټوپکـه تابـه ختمـوم قلـم پـه لاس ولاړ يـم

هوډمي دي کړي توان طاقت به دالله نه غـواړم
ټوپکـه تابـه ورکـوم قلـم پـه لاس ولاړيـم

**قطعه**

چې دزړونو پر مالک یې توکل وي
نسته ویره دې دنیا بلي دنیاکي

که هر څومره قاتلان ورنه چاپیره وي
دي محفوظه په دنیا اوپه عقبٰی کي

**څلوریزه**

چي مین سو شهزاده پرنوروسترګو
نه کوي څه یا رانه دبورو سترګو
(یوسفزی)هم پر هغو سترګومین دي
چي راغلی مستانه دتوروسترګو

**څلوریزه**

میره نه ده ګلالۍ جوړیداي نسي
میس دسپینوپالوۍ جوړیداي نسي

دملالۍ زرغوني نازووطن کي
هره ښځه ملالۍ جوړیداي نسي

## شگوفه

ماتــه گــل هــم شــگوفه ئـي دسـر وگلوگــل دســته يــې
پــه زړگـي کـي مـي اوسـيږي ښايـسته ئی نازدانـه يـې

هم مي زر هم مي زيـورئی تـه هـم زمـا دزړگي سر يـې
تـه مـي سـاز تـه مـي نغمـه ئی تـه زمـا دژوند ډيـوه يـې

ته مي روح ته مي ښگلا ئی هم مي زړه کي نن سبا يې
تـه مـي بـاغ تـه مـي باغچـه ئی تـه زمـا خـوږه منـه يـې

هــم پــه مينــه بــا وفــا ئــی زمــا ژونـد تــه محبوبــائی
تــه نــاول تــه مــي کيــسه ئی هــم غــزل هــم قــصيده يــې

زه بـــي تايمــــه نيمگــــړي لکــــه ســــا نــــه لــــري مــــړی
هــــم تعلــــيم هــــم تربيــــه ئــــی هــــم قلــــم کتابچــــه يــــې

(يوســـفزی)پــــه تــــا نــــازيږي ســـتاليدوته هوســـيږي
شــيريني لــري خــوږه ئــی راتــه گرانــه پتــا ســه ئــی

## ځالګۍ

ځـــالګۍ چـــي ورانـــوي خیرئـــی نـــسته
مظلومـــــــان لاژړوي خیرئـــــــی نـــــسته

پـــه دا بعـــضوځالګیوکي مـــاران ســـته
خپلـــي ګـــوتي بـــه بـــایلي خیرئـــی نـــسته

پـــه یـــوه ښپیـــړه ســـل مخـــان خـــوړیږي
داخبـــره نـــه منـــي خیـــر ئـــی نـــسته

کـــه شـــپه اوورځ کـــړي عبـــادت وخپـــل الله تـــه
مینـــان چـــي کـــړوي خیرئـــی نـــسته

دســـره اوره ښخـــه لیـــري لیـــري ګرځـــي
چـــي اورونـــه بلـــوي خیرئـــی نـــسته

(یوســـفزی)معلـــم همـــیش ورتـــه ږغیـــږي
پرســـیده لاره نـــه ځـــي خیرئـــی نـــسته

## ونشوته

ونـــشوته یـــې ســـودالار ئـــې خطـــاده
چـــې ځوانـــان پـــه اختـــه کیـــږي هـــم گنـــاده

چـــرس رویـــن پوډرتاریـــاك ځکـــوي پـــه خپلـــه
هـــم دځـــان هـــم دملـــت ســـره جفـــاده

شـــیرین ژونـــد ئـــی بربـــادیږي پـــه نـــشوکي
دغـــه شـــخص کـــړې دبـــل ســـره ســـوداده

بـــې هنـــره بـــې تعلمیـــه دغـــه کـــار دي
دژونـــدون ونیکمرغیوتـــه بـــلاده

پـــلار او مـــور اولاد ئـــی پاتـــه وي کړیـــږي
لـــه دوســـتانوقریبانوڅه خـــې غـــلاده

مـــه پریـــږدي خپـــل او لادونـــه ونـــشوته
پـــه نـــشه ئـــی کـــړي اختـــه دابلـــه خـــواده

تـــل مـــدام ځوانـــان لـــه نـــورو خرابيـــږي
هـــر مجلـــس تـــه يـــې ليـــږي دائـــی ســـزاده

پـــه تعلـــيم ئـــی کـــړي ســـمبال خپـــل اولادونـــه
دتـــــورتم تـــــورو تيارو تـــــه هـــــم رڼـــــاده

(يوســـــفزی)معلـــــم وتاســـــوته ږغيـــــږي
پـــــه تعلـــيم کـــي دي خوندونـــه لارصـــفاده

## اولیاء

دپـــــاك افغـــــان پـــــاك اولیایـــــاددوم
تــــول قــــدرمن هــــم پــــه رښــــتیایادوم

غــــوث دبغــــداد پیران پیرتــــه ســــلام
هــــم پــــه نازېروشــــیراغایادوم

ســــیدبهلول اغــــاڅلورګلان دي
ســــیدبهاوالدین ســــلام اغایــــادوم

بــــل طیــــب جــــان کوکواغادرښــــیم
دخــــشکاوې دشــــاوخوایادوم

دقادرجــــان اغادربارتــــه ورځــــم
کرامتــــي ســــالم بابــــا یــــادوم

دمجلــــسو امــــام اغــــا میراغــــا
ولــــي کــــرم هــــم پــــه بیابیــــا یــــادوم

سـیـد تـا جــداراو بــل دود اغــا و
دلعــل محمــد اغــا وینــا یــادوم

یوشــا ه غونــډ ان بــل جعفــري بابــا و
میــرویس نیکــه او احمــد شــاه یــا دوم

میونــدد جنــګ بابــا ولــي درښــیم
شــا ه اغــاهم دهغــې خوایــادوم

شــمس تــوریز بــل قلندرقلنــدر
ســیدمحمدهم نــن ســبایادوم

دمــرچ اغاموریــدان دلتــه هلتــه
ټــول قــدرمن دي باوفایــا دوم

حــضرت صــاحب اغــا دربــار ننګــوم
پاتــه هــم ټولــه خــشنما یــادوم

دخلیفــه صــاحب لعــل محمــد پــر دربــار
ټولــه بــه ســتایم خامخــا یــادوم

دبورکـــالي اوســــپین کــا لـــي پردربـــار
ټولـــه پیـــران هـــم پـــه دعـــا یـــادوم

حـــاجي ملنـــگ مـــاذدا کـــي ورغللـــه
اختـــه پـــه ذکـــر دمـــولا یـــادوم

یـــم (یوســـفزی)معلـــم ملنـــگ ددربـــار
هـــم ئـــي قـــاري هـــم ئـــي ملایـــادوم

**ټپيزه**

دبيلتانه په خوب وده ئي
دزخمي زړه څه خبر نه ئي
تللي له ما څخه پر څه ئي
خوابدي سوي له ما ته ئي
دخوبه ډکي سترګي چا ته واړومه

**ټپيزه**

ناري وهم تاته په زوره
راووتم دخپله کوره
واوره زما دسترګوتوره
په مينه مينه را ته ګوره
ورکي ولاړيم درا تللو لار دي څارمه

**ټپيزه**

دګل ګلاب ترګل نازکه
لاره له ما څخه ده ورکه
ولاړيم ځکه بي درکه
دبوري حال راکه هلکه
پيزوان ئي پاته زه بي چيري لټومه

**ټپيزه**

په منډه منډه يو ليلا تيره سوه
ديکه ئي راکړه وارخطاتيره سوه
دخلګو پټه نه په غلا تيره سوه
يوګړي با ده هغه بياتيره سوه
و(يوسفزي)معلم تې پرېښودل غمونه

**ټپيزه**

زړه چي مين سي په ژړا سي
ديارله غمه په غو غا سي
شپه سي پر تيره پر سبا سي
په ګل پسي په واويلا سي
دکبر جن کلي به چيري لټوينه

**ټپيزه**

دا اوږده شپه نه سبا کيږي
زړه مي په يا رپسي ضوريږي
خويوساعت مي نه هيريږي
بي ياره شپه کله تيريږي
پربسترپروت يم ماته نه راځي خوبونه

## ماشومان

ما شومان و خپل بابا ته دي گویانه
معلمان خواران تل وینم سر گر دانه
تل مدام پر بایسکل وي رارو انه
که معلم سوم زه به یم دا سي پریشانه
نور زه نه کوم تعلم څه یې خواري ده
در پر دره یې همیش څه زندگي ده
تر دې ښه دي چي زه زده کړم بل کما له
بې تعلمه خلگ ډیر وینم خوشحاله
دوي همیش په ښو موټرو کي گر ځیږي
ددنیا په زیوراتو تل نازیږي
ښه په لوکس بنگلو کي دي کورونه
ورجي غوښي خوري همیش ډک یې جیبونه
هم په کور کي سره اوسپین لری لعلونه
دخواری یه نا خبره سره لا سونه
هم په کلي کی با نظمه معلو میږي
هر چار واکی په تعظیم ور ته دریږي
تلویزون او سرې غالي لري ښا غلی
ښکلی نوم په هر زمان هر چا منلي

ښــا یــسته او ښــکلي یــې بچــان دي
رنگارنــگ جــامې پــه تــن لکــه گــلان دي
نــه پــه یــخ او پــه گــر مـــــــي دي نــا خبــره
د معلــــــــــم بچــان تــل ویــنم در پــر دره
دا کیــــــسه ده مــا لیــدلې ده عیـــــانه
گــران بچیــان وخپــل بابــا تــه دي گویــا نــه
یــو معلــم یــې را وســتلي خپــل بچــو تــه
د مکتــب روپــي مــي نــسته کتــابچو تــه
نــور مکتــب تــه نــه ځــم گرانــه بابــا جانــه
نــسته قــدر دمعلــم پــر دې جهـــــا نــه
کــه تعلـــــــم وکــړم زمــا بــه دغــه حــال یــی
دوســت بــه نــه لــرم زمــا بــه لا څــه خیــال یــی
پــر اغــا بانــدي را ټــول وه خپـــــل بچیانــه
پــه ژړا ســو دا تــر زړه وه بــا نــدي گـــــرانه
ویل واوري بچو تــا سو تــه نصیحت کــــــــړم
سر کړي خلاص وه تا سو ټولو ته وصیحت کړم
بــې میــوې ونــي هــیڅ نــه لــري خوندونــه
چـــي وانـــه وري دبـــې علمـــه څـــه پندونـــه
پـــه تعلـــم او تـــر بـــې بـــا نـــدي انـــسان دي
بـــې تعلمـــه د ړانـــده ســـري پـــه شـــان دي
قـــدر مـــن داوســـني عـــصر دا ځـــوان دي

دا ښـا غلـي پـر جهـان هـر چـا تـه ګـران دي
پـه دنيـا هـيڅ مـه نـازيږي تعلـم وکـړي
ملګــري پــه هــر زمــان د عــالم وکــړي
نـوم نـښان بـه مـو پـا تيـږي پـه جهـان کـي
ددې خلګـو نـوم پـا تيـږي پـه بيـا بـان کـي
نـن کـه نـه لـري پيـسې تعلـم پکـار دي
دا بېعلمـه سـتا چـو پـړ تـه انتظـار دي
نـو چـي دا سـي يـي بـا بامکتـب تـه ځمـه
دا تعلـم حـا صـلوم ادب تـه ځمـه
تعلـم کړمـه تـل پـه مينـه ور تـه ځمـه
خـواري کاږمـه دا فـيض حـا صـلومه
نـازولي پـر را تـول وه مهربانـه
مـا شـومان وخپـل بابـا تـه دي ګـو يـا نـه
ښـه ډاکتـر او انجينـر بـه راڅـه جـوړ سـي
کـه تعلـم نـه وي ختګـر بـه راڅـه جـوړ سـي
سـتا دسـتر ګـو بـلا وا خلـم تـا ژړا کـړه
نـصيحت نـه دي قـر بـان سـم تـا وفـا کـړه
دا وينـا د (يوسـفزي) معلـم ده ګرانـه
مـا شـومان وخپـل بـا بـا تـه ي ګـو يـا نـه
معلمـان خـواران تـل وينـم سـر ګـر دانـه

# مېلمانه

يــو كيــسه در تــه كــوم د نــشيـــــانو
درې كـــسان ســوه مېلمـــا نـــه دقريبـــانو
درې وارډه دكــور خاونــد تــه پــه ســودا ســول
وه نـشو تـه يې سـودا پـه يـو سـلا ســــول
ويــل را ســه عجــب خونــد دي پــه نــشو كــي
نــا خبــره ددنيــا پــه تمـــــــــا شــو كــي
يــو څــو كــشه يــې دكــور خاونــد تــه ور كــړه
نــا خبــره يــې غريــب بربـــــــڼ تــه ور كــړه
شــپه يــې تيــره پــه نــشو بانــدي ســبا كــړه
يــو تــر بلــه وه نــشه پــر دغــي خــوا كـــړه
ظالمـــانو پـــه نـــشو بـــا نـــدي اخـــــته كـــړ
كــسب پاتــه تمــا شــو بانــدي اختــــه كــړ
هــره شــپه بــه يــې رويــن پــوډر څـــــــكوله
كــور نــه ليــري بــه يــې شــپه سبــــــا كولــه
مور او پلار بچا ن يې پـا تـه خـوار وزار سول
په خبر سول ټول دده ښخه بېزار ســـــــول
ســو ملگــري ددرو وارو تـــا ريـــا كيـــا نـــو
هــم د هغــو ميلمنـــــــــو هـــا پوډريـــا نـــو
كلــه كلــه بــه پــه غـــــــلاا پــسې روان وه

وربي تربي سر گر دانه دبیا بان وه
حکو مت چي په خبر سو وې نیوله
هغه دم یې ثلو واړه را وستله
تداوي ور باندي وکړه ډاکټرانو
له نشو ثخه یې خلا ص کړله یارانو
(یوسفزي) معلم لیکلی دا داستان
شعر غزل کي یې ویلي دا بیان دي
ما شومان موو سا تي گرانو دوستانو
دې کیسې ثخه پند واخلي افغانانو

## پوښتنه

پر معلم با ندي را ټول وه شاګردانه
کړي پوښتنه د استاده مهربانه

راديو او تلوېزون ور ته ګو يانه
مکتبونه سوزل کيږي يو پريشانه

جنګ جګړې دي د پښتون کورګي سوځيږي
هر شپه په تلوېزون کي معلوميږي

که دلر دي که دبر دي تباه کيږي
هري خواته پښتا نه ورونه قتليږي

نازولي پر راټول ورته ګويانه
کړي پوښتنه د استاده مهربانه

دشمال خلګ همیش وینم خوشحــــــــاله
مکتـــــــــــبون سړکونه يې فعاله

دهلمند کیسه وموږ ته کـــــــړه بیانه
تل مدام پکښې جنـــــګونه یو پریشانه

دانو ولــــــــي نا ارامه ولايـــــــــت دي
دتارياکــــــــــو په کرلو کي عزت دي

هلته هم تعلم مکتب اوشاګـــــــردان سته ؟
لیکـــــــــوالان اوادیبان او مینان سته ؟

سو زهیرپه دې الفــــــــــاظو سوګو يانه
پر معلم باندي را ټول وه شاګــــــــردانه

تر چشمانو د معلم اوښکـــــــــي تويیږي
رپیدلي دواړي شونډي ئـــــــــــی رږغیږي

ویل غوږ ونیسي گرانو شاگردانو
پښتانه تاریخ لري د اتلانو
هم تعلم او تربیه لري ښا غلي
ادیبان او لیکوالان هر چا منلي

په هلمند کي با تعلمه استادان سته
چهارده پاسه مسلکي او ماسټران سته
رادیو او تلویزون ورته ږغیږي
استادان او شاگردان ئي معلو میږي
پښتنو سیمي یې کړې ور ته روښانه
پر معلم باندي را ټول وه شاگردانه
ول استاده نو چي داسي وي ورځو به
قلعه بست قلعه کي شپې سبا کوو به
بي بي سي را ډیو نه اورم استا ده
دا هر وخت وه موږ ته گډه وي بې سازه
بس دجنگ اودجگړو کړي خبرونه
دتعلم خبري نسته خاص جنگونه
(یوسفزی) معلم وتا سي ته گویانه
شاگردان یې کړه را ضي په خپل بیا نه
پر معلم با ندي را ټول وه شاگردا نه

## د ملالۍ یو ټپه

زه ددې عصر د پاره
هم نازو هم زرغونه یم

خویندو وروڼو په محفل کي
د ملالي یو ټپه یم

زه هم ناسته پر سنگر یم
غلیما نو ته توفان یم
مسلکي د نن زمان یم
زه د گلو گل دسته یم

هلي ځلي به کومه
هلي ځلي مي دي کړي
زه به ښکلي بڼ روزمه
زه د ښکلي بڼ منه یم

دتــــــــور تــــــم تــــــورو تیروڅــــــــــه
ځـــان بـــــه بــــا ســــــم ورښــــا تـــــه
دعرفــــــان عـــــــصـــــــر را غلــــــــي
غوړیــــــد لې شگــــــــــو فـــــه یـــــم

ځـــــــــان منــــــزل تـــــــه رســــــومه
مــــــــــاد پوهي ور پرانیـــــــــــســــــتي
دتعلــــــــــــم پرډگـــــــــر تاتـــــــــــه
رڼـــــــا اخلــــــــمه ډیــــوه یـــــم

(یوســــــــــفزیه) تربــــــــــیه کــــــــړه
دوطــــــــن مـــــــا شومـــــــــان واړه
دتعلــــــــم پــــــــه زیورښکلـــــــــــی
زه هــــــم ستـــــــا دلاس الــــــه یـــم

زه ددې عـــــــــــســــــــر دپــــــــاره
هـــــــم نـــــــــازوهم زرغونــــــه یـــــم

## پښتون

یمه پښتون پښتو مي خوښه پښتووایمه زه
دپښتنو سره لوي سوي پردې خوا یمه زه

پښتون تاریخ لري دوخته قهرمان یادیږي
اتل یې بولمه همیش پدې وینا یمه زه

داسیا دغرو زمري یم په سنگر کي اوسم
نن وه هغه غلیم ته ناست یواحمد شاه یمه زه

که زه دورور سوم ورور زما سو بیا بې هلته گورو
دې شر میدلو ځغلولو ته اغا یمه زه

زه به جنت ته دپښتو او پښتنو سره ځم
یمه ملگري دپښتون او پښتون خوا یمه زه

پښتو دري دواړي رسمي مو دولتي ژبې دي
خوږې خو ډیري د پښتو سره اشنا یمه زه

پښتون ازبک تاجک بلوڅ که هزاره پشئي
ټول افغانانو ته همیش لاس په دعا یمه زه

تعلم به ور کم مختلف ژبو بچا نو لره
زه (یوسفزی) معلم همیش پدې سودا یمه زه

## پنځه بنا وي

زه کلمـــــــه د لا الــــــه الاالله وا یمــــــه
پــه هــر لمـا نځـه کـي محمـد رســو الله وا یمـه

کلیمـه لمـونځ ،روژه ،زکـات ،حج يې پنځمـه بنـا
دردو ســلام پــر نــا زولــي خیــر خــوا یمــه

ومسلمان ته يې دعوت پر سپین قر آن پر ښـیښي
چــي د معلــم لقــب يــې وړی رهنمــا وا یمــه

ټولـه دنیـا ده پیـدا سـوې پـه را تلـو دمحبـوب
چي انـس وجـن دي قبـول کـړي مـصطفی وا یمـه

چي يې صفت پـه کتـا بـو کـي موریخینـو کـړی
پـر نـا لیـدلي چـا مـین یم پـه بیـا بیـا وا یمـه

چي يې دحسن شغلې تللي تـر اسما نـه پـوري
و هغـه شـخص تـه بـه همیش دټول پیشوا وا یمه

ثلـور یـا ران ،ثلـور کتابـه، هـم ثلـور مذهبـه
د حنیفـي مــذهب پیــروه یــم رښــتیا وا یمــه

تـر مـور او پـلار دي مهربانـه شـفا عـت مـو کـوي
(یو سفزی ) څـو ورځـي ژونـدي هـم یـې ثنـا وا یمـه

## پای

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.